د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

بحث پاڼه

# په افغانستان کې د انتقالي عدالت وضعیت

## فعالین، کړنلارې او ننګونې

ایملي وینټربوتم

ددې څېړنې مالي لګښت د ناروې د سفارت له خوا برابرشوی دی

د ۱۳۸۹ کال د ورې میاشت

## د ليکوال په هکله

ايملي وينتربوتم د افغانستان د څېړنې او ارزونې په اداره کې د انتقالي عدالت په هکله څېړنه کوي. نوموړې وړاندې تر دې د همدې موضوع په هکله په بوسنيا هرزګووينا کې څېړنه ترسره کړې او د لندن د اقتصاد له پوهنتون څخه يې په نړيوال سياست کې خپله ماستري تر لاسه کړې ده.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې په هکله

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې ميشته يوه خپلواکه څېړنيزه ااداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ ځرنګوالي درلودونکو او پاليسی پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپاليسی او چارومثبتې اغيزې او دمعلوماتو پراخول دي.

همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څېړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه د څېړنې پايلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسيدو لپاره نوموړې اداره د پاليسي جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره ددوی د څېړنيزې وړتيا د پياوړې کولو او ددوی په مينځ کې د دې ادارې د څېړنو او کتابتون څخه د ګټه اخيستنې دترويج په موخه بشکيل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

نوموړې ادارې په ١٣٨١لمريز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندويه ټولنو په مرسته يې په کار پيل وکړ اود يو مديره پلاوي درلودونکې ده چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګري ملتونه او نورو څو اړخيزو ادارو، او نا دولتي ادارو له خوا يې استازيتوب کيږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلی بودجه د ډنمارک ، فنلند، ناروی، سويډن، سويزرلند او د انګلستان دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. د افغانستان د پرانيستې ټولنې د انستيتيوت (FOSIA)، ايشيا فونډيشن (TAF)، اروپايي کميسيون (EC)، او د نړيوالي پراختيا لپاره د څېړنيز مرکز(IDRC) له خوا ددې ادارې له ځانګړو پروژو سره مالی مرستې کيږي.

## کورودانی

ليکوال له ټولو هغو کسانو او په ځانګړي ډول د انتقالي عدالت له همغږکوونکې ډلې څخه مننه کوي چې په دغه څېړنه کې يې برخه اخيستی ده. ليکواله له ساری کوو، پاټی ګوسمن، مورينا موری او جان ديمپسی څخه د دغه سند په جوړولو کې د ښو مشورو له امله ځانګړی مننه کوي. په همدې ډول نوموړې د خپلې څېړونکی ډلی له هر يو فوزيه رحيمی، امين شيخ زاده، زمان سلطانی، اکبر لودين، جميله وفا، شکريه آزادمنش او فرخ لقا امينی څخه د زړه له کومې مننه کوي. په پای کې هغه غواړي چې ددې سند په برابرولو کې د پاولا کانتور، ديبرا سميت، چونا ايچاويز او لورا کيم له مرستوڅخه هم مننه څرګنده کړي.

ايملي وينتربوتم
د ١٣٨٩کال د وري مياشت

تصحيح: ماری شيرزاد

طراح او ديزان: وکيل وسيم

© د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره. ځينې حقونه خوندي دي.دغه خپرونه ښايي د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې او د ليکوال د ليکلي اجازه ليک د تر لاسه کولو سره بيا خپره، د موندلو وړ سيستم کې زيرمه او يا يوائې د غير-سوداګريزو موخو لپاره وليږدول شي. چيرې چې دغه خپرونه بيا خپره، زيرمه او يا د بريښنايي لارې ليږدول کيږي، د افغانستان د څېړنې او ارزونې داداری د ويب پاڼې اړيکه بايد ذکر شي www.areu.org.af. او ددې خپرونې په کارول له نوموړې موافقې پرته، د خپرونکې يعنې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې مخکينې ليکلې اجازه ليک ته اړتيا لري. دغه اجازه ليک کيدای شي د areu@areu.org.af او يا د ٠٠٩٣٧٩٩٦٠٨٥٤٨ شميرې سره د اړيکې له لارې تر لاسه شي.

## لنډیزونه

| | |
|---|---|
| AHRDO | د افغانستان د بشري حقونو او دیموکراسی موسسه |
| AIHRC | افغانستان د بشري حقونو خپلواك کمیسیون |
| AJP | د افغانستان عدلي پروژه |
| ANDS | د افغانستان ملي پرمختایي ستراتیژي |
| ANP | افغان ملي پولیس |
| ANPA | د افغانستان د ملي ګډون یا مشارکت ټولنه |
| ASP | د غړو هیوادونو اسامبله |
| CIA | د استخبارتو مرکزي اداره |
| CICC | د نړیوالي جنايي محکمي ایتلاف |
| CSO | د مدني ټولني سازمان |
| DC-CAM | دکمبودیا د اسنادو مرکز |
| ECC | د ټولټاکنو د شکایتونو کمیسیون |
| ELJ | بیړنی لویه جرګه |
| EU | اروپایي اتحادیه |
| EUSR | داروپایي اتحادیي ځانګړی استازی |
| FES | فریدریک ایبرت ستفتونګ |
| FSFJ | د عدالت او یوالي لپاره بنسټ |
| GOA | د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت |
| HRW | د بشري حقونو څار |
| ICC | نړیواله جنايي محکمه |
| ICTJ | د انتقالي عدالت نړیوال مرکز |
| MOI | د کورنیو چارو وزارت |
| MOJ | د عدلیي وزارت |
| MOLSAMD | د کار، ټولنېزو چارو، شهیدانو او معلولینو وزارت |
| NGO | نادولتي موسسه |
| OHCHR | د بشري حقونو لپاره د عالی کمیشنر دفتر |
| OSI | د خلاصې ټولني انستیتیوت |
| PHR | د بشري حقونو ډاکټران |
| TJCG | د انتقالي عدالت د همغږۍ ډله |
| TRC | د حقیقت موندني اوبیا پخلاینې کمیسیون |
| UNAMA | په افغانستان کي د ملګرو ملتونو مرستندوی پلاوی |
| UNSC | د ملګرو ملتونو د امنیت شورا |
| USIP | د متحده ایالاتو د سولې انستیتیوت |

له عدالت څخه پرته د سولې رامنځته کول يواځې ودانول دي.[۱]

# ۱. سريزه او شالید

تیرو ۳۰ کلونو پر افغانستان او خلکو يې فیزیکي او رواني ټپونه پرېښي دي. هیواد لادرکه کیدل، ځورونې، ډله ایزې وژنې، قومي ځورونې، کورنۍ بې ځایه کیدنه ، ایران، پاکستان او نورو هیوادونو ته د افغانانو ډله ایزه ګډوالۍ يې زغملي ده. نږدې هر افغان د ویلو لپاره مبارزې، کړاونو او یا له لاسه ورکولو یوه کیسه لري.[۲] خلک ددې لپاره چې وکولای شي مخ په وړاندې ولاړ شي او یوه حقيقي او پایيدونکې سوله تر لاسه کړي څرنګه له دې میراث سره چلند کوي ؟ په یوه چاپیریال کې چې وسله والې نښتې او د بشري حقونو څخه سر غړونې ادامه ولري؛ حکومتي اداري کمزوري او د مشروعیت او اعتماد وړ نه وي؛ او په دغه جرمونو ځینی تورن مرتکبین د سیاسي مشرانو په منځ کې وي. دغه پوښتنه نوره هم پيچلې او بحث پاروونکې کيږي.

په ۱۳۸۰ کال کې د طالبانو له راپرځېدو وروسته، زیات افغانان هیله مند وو چې تاوتریخوالی به پای ته ورسیږي. که څه هم تاوتریخوالی کم شوی، خو لا تر اوسه په بشپړ ډول پای ته نه دی رسیدلی. له ۱۳۸۵ راهیسې امنیتي وضعیت خراب شوی او د ۱۳۸۰ کال په پرتله تاوتریخوالی اوس لوړې کچې ته رسیدلی دی. د وګړو له دریمی برخې څخه زیات خلک په بېوزلۍ کې ژوند کوي[۳] له ۲۵۰۰۰۰ کسانو څخه زیات وګړي د هیواد په دننه کې بې ځایه دي، په داسې حال کې چې له دریو میلیونو څخه زیات وګړي په ایران او پاکستان کې اوسیږي.[۴]

په زیاترو هیوادونو کې کله چې تاوتریخوالی پای ته رسیدلی، ټولنې له دې لپاره چې د تیرو ظلمونو له میراثونو سره څه ډول سلوک وکړي له ستونزو سره مخ شوې دي چیرې چې په ډیرو حالاتو کې مخکیني غلیمان لا هم په عین جغرافیایي سیمه يې تر ولکې لاندې ده.[۵] د وخت په تیریدو او د نړیوال قانون د بې ساري پراختیا له امله دغې پريکړې لا زیات ارزښت يې موندلی دی: د ملګرو ملتونو له خوا د جنګي جرمونو د ځانګړې محکمې جوړیدل، د نړیوالې جنايي محکمې رامنځته کیدل او په ځینو هیوادونو کې د قضایي سیستمونو جوړیدل چې د خپلو پولو څخه بهر هم وکولای شي د نړیوال قضاوت د پلی کولو لپاره عمل وکړي.[۶] دا ټول هغه مخ په زیاتیدونکې نړیوال دنظر یو والی منعکسوي چې باید د هر چا له بشري حقونو څخه ملاتړ وشي، عامه وژنې، جنګې او د بشر په وړاندې جرمونه بې مجازاتو پاتې نه شي. ډیپلوماتانو او مذاکره کوونکو چې له تاوتریخوالې څخه ډکو شخړو په پای ته رسولو کې ښکیل وو، په مخ په زیاتیدونکې توګه يې د دې جګړو د میراث د په نښه کولو لپاره د هیڅ څه نه کولو ګواښونه يې په پام کې نیولي دي؛ د معافیت دکلتور دوام کیدای شي راتلونکې تیرې او سرغړونې وهڅوي.[۷] د ۱۳۶۹ کلونو د پيل راهیسې، په کمبوديا او السلوادور کې د ملګرو ملتونو عملي تجربې دغه واضح پیغام پلی کړ چې انتقال به د ثبات د کمښت سره مخامخ شي که چیرې د حساب ورکونې او د قانون د واکمنۍ پر بنسټ نه وي، او که چیرې عدالت ته لاره هواره نه شي نو مشروعیت به شتون ونه لري.[۸] له دې کبله، د مستبدوحکومتونو نه دیموکراتیکو رژیمونو ته او یا له جګړې څخه سولې ته د انتقال پر مهال، ملتونه او نړیوال فعالین په ځانګړې توګه د "انتقالي عدالت" له ننګونو سره مخامخ شوي دي: یوه عمومي اصطلاح چې هغه تدابیر څرګندوي کوم چې د ټولنو د هغو هڅوسره تړلې دي څو د سترو تیرو او سرغړونو دمیراث په هکله جوړ جاري ته ورسیږي، او په دې توګه حساب ورکونه تضمین، عدالت پلی کړي، پخواني دښمنان سره پخلا او سوله تر لاسه کړي.

د تاوتریخوالی د اندازې او اوږدوالي سره سره، په افغانستان کې د جګړې په هر یو پړاو کې د تیرو جرمونو لپاره کومه حساب ورکونه نه ده تر سره شوې.[۹] په ۱۳۸۰ کال کې د بن د تړون له لاس لیک کیدو راهیسې، د افغان حکومت له خوا د انتقالي عدالت د بهیر د پلې کیدو په موخه هیڅ یو داسې همغږې هڅې نه دي شوې. په افغانستان کې د معافیت د کلتور د په نښه کولو لپاره ډیر لږ څه تر سره شوې دي او د بشري حقونو څخه د تر ټولو ناوړه سرغړونو

[۱] څرنګه چې الیکس بوراین د انتقالي عدالت د نړیوال مرکز د ریس له خوا د کنفرانس د پرانیستونکې وینا پر مهال بیان شو، له سولې څخه مخکې عدالت: د سولې د رامنځته کولو په محتوا کې له معافیت سره مبارزه؛ (د ۱۳۸۸ کال د کنفرانس څخه د پایلې سند، هالند د بهرنیو چارو وزارت، هاګ، ۱۳۸۸ کال د وری ۱۶ او ۱۷ نیټه.

[۲] د هغې مشورې پر مهال چې په ټول هیواد کې د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا تر سره، کابو ۷۰ فیصده مرکه کوونکو ویلی چې د جګړې پرمهال دوي او یا د دوي دکورنۍ نږدې غړی په مستقیم ډول د بشری حقونو د جدی تیری قربانی شویدي. د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون، د عدالت لپاره غږ: په افغانستان کې د تیرو بشری حقونو په اړه ملی مشوره. کابل ۱۳۸۴. ۴. راپور له دغې ویب پاڼې څخه تر لاسه کولای شئ. http://www.aihrc.org.af/re_eng_29_01_05.htm (د ۱۳۸۸ کال د جنوری په میاشت کې د لاسرسي وړ وو.)

[۳] د احصاییې مرکزی اداره، د ملی ګواښونو او زیانمننې ارزونه ۱۳۸۶/۰۸په دغه ویب پاڼه کې د لاسرسي وړ ده.http://www.nrva.cso.gov.af/poverty.html.د دغه موجوده شمیرو زیاتره برخه چې د افغانستان په زیاتره اساسی شاخصونو کې تر لاسه کیدای شی، لکه بیوزلی او یا د ماشومانو مړینه، باید په تخمینی ډول په نظر کې ونیول شی.

[۴] د بشری مرستو د همغږی دفترو په ۱۳۸۷ کال کې د افغانستان د بشری مرستو د عمل پلان.(کابل اوچا، ۱۳۸۷)

[۵] د ساری په ډول د پخوانی یوګوسلاویا لپاره د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۹۲ ګڼی پریکړه لیک پر بنسټ د نړیوال جنایی دیوان رامنځته کول، چې د هغه وروسته په ۱۳۹۳ کال کې د روندا لپاره نړیوال جنایی دیوان منځته راغی. سیرالیون د پخوانیو نړیوالو دیوانونو پر بنسټ د نړیوال جنایی عدالت یو نوي موډل جوړ کړ چې د سیرالیون لپاره د ځانګړی محکمی په نوم یاد شو.

[۶] جان مندیز ،؛ ملی پخلاینه، انتقالی عدالت او نړیوال جنایی محکمه؛ په نړیوال قومی چارو کې.(د نړیوال چارو په اړه کارنیجی شورا بیا کتنه)۱۵، لومړی ګڼه ، (۱۳۸۰)

[۷] نایل کریتز ، د ظلم د اصطلاح سره آشنا کیدل؛ د بشری حقونو سترو تیریو او احتساب پر میکانیزمونو باندې یوه کتنه،؛ په قانون او موقتی خنډونو کې. ۵۹ ، ۱۲۷ ګڼه

[۸] راما مانی، د معافیت پای او په افغانستان کې د عدالت رامنځته کول. (کابل، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره ۱۳۸۲)

[۹] که څه هم محاکمه د افغانستان څخه بهر په انګلستان او هالنډ کی تر سره شو، دغه مسله په ۴ برخه کې تر بحث لاندې ونیول شو. د کمونستی رژیم د جاسوسی اداره پخوانی مشر اسدالله سروری محاکمه د دې څخه بهر دی چې د انتقالی عدالت د پروسی لپاره یوه ټوکه ده، ځکه عدلی قانونی لومړنی معیارونه پکې نه دي مراعت شوی. د نور معلوماتو لپاره وګورئ سیپی آزربایجانی مقدم، ؛ د یو منفی سولی او نیم جوړ حکومت سره ژوند کول: جندر او بشری حقونه، نړیوال سوله ساتنه، ۱۴، لومړي ګڼه. ۱۳۸۶ کال ۴-۱۳۳.

باندې تورن کسان د واک پر ګدۍ ناست دي. خو د دې پرځای د افغانستان حکومت او یو زیات شمیر نړیوال مخور فعالین داسې استدلال کوي چې کیدای شي د عدالت پلې کول موجوده نسبي سوله ګډوډه کړي.[10] پر پخوانیو سرغړونو د سترګې پټولو لنډ مهاله منطق په هره بیه د تاریخي اوږدوالي او جګړې د پای ته رسیدو لپاره په هره بیه چې وي ښايي د ستاینې وړ وي. سر بیره پر دې دا هم تایید شوې ده چې په داسې پیچلو شرایطو کې د حل لارې موندل آسانه نه ده. خو له دې سره دا یو څرګند حقیقت دی چې جګړه پای ته نه ده رسیدلې او داسې ښکاري چې دغه نسبي سوله چې د طالبانو له رانسکوریدو او د بن له لې بهیر وروسته را مینځ ته شوې، په مخ په زیاتیدونکي توګه نه پایدونکي ده. په دوامداره توګه د معافیت د کلتور په ښه کولو او د انتقالي عدالت د هر اړخیز بهیر په پلې کولو کې پاتې راتلل افغانستان ته یې ننني بڼه ورکړې ده.

په افغانستان کې، څرنګه چې راما مانی استدال کوي، له معافیت سره معامله یوازې د تیر سره مقابله کول نه غواړي. دا هغه پوښتنه ده چې باید اوسنی حالت هم په ښه شي څو راتلونکی هم خوندي شي. په افغانستان کې د معافیت سره معامله د هغو کړنو لړۍ له ننګونو سره مخ کړې چې د بهرنیو او داخلي بېلا بېلو فعالینو له څواکمنتیا او ناوړه چلند څخه سر چینه اخلي کومو کسانو چې د افغانستان توپاني تاریخ ته یې بڼه ورکړې او د دغه هیواد د سولې لړلید یې په دوامداره توګه اغیزمن کړی دی.[11] دا په ی دلیل دی، چې د افغانستان د تیر سره مناسب چلند یو ځانګړی سملاسیتوب غواړي، ځکه چې د دې سیورې، په دوامداره توګه خپریږي او کولای شي چې حال او راتلونکی سره روغه وکړي.

دغه بحث پاڼه په افغانستان کې د انتقالي عدالت د اوسني وضعیت یوه عمومي کتنه برابروي. موخه دا نه ده چې دا هر اړخیزه او بشپړ وي، خو هڅه شوې چې په ننني افغانستان کې د انتقالي عدالت د فعالیتونو یو انځور رامنځته، مهمې ننګونې او شامل بحثونه را برسیره کړي.[12] دوهمه برخه د انتقالي عدالت په اړه د پالیسي جوړولو چاپیریال راسپړي، د سولې عدالت او بیا پخلاینې[13]، د معافیت قانون، د ملي مصالحې او ثبات[14] او د سولې او بیا پیوستون د پروګرام د عمل پلان تر بحث لاندې نیسي. دریمه برخه، په عمل او تیوری کې، د دریو مهمو فعالینو لکه د افغانستان حکومت، نړیواله ټولنه (ډیپلوماتیکه او مدني ټولنه) او د افغانستان د مدني ټولنې ونډه طرحه کوي. څلورمه برخه د دریو مهمو موضوعي ډګرونو په اړه د پوړتنیو فعالینو وروستي پالیسیګانې راسپړي: د جنګي جرمونو لپاره قضایي حساب ورکونه ، پالیسیګانې چې له تیر سره مقابله وکړي، او جبرانونکي پالیسیګانې چې د افغانستان د جګړې قربانیان تایید او تصدیق کړي، راسپړي. په پای کې دغه سند د مخ ته برتو لارو لپاره د ځینی ملاحظاتو په هکله ځیني غبرګونونه رابرسیره کوي.

په سند کې وړاندې شوې معلومات او شنني په پراخه توګه په کابل کې له مهمو ملي او نړیوالو کسانو اړوندو سازمانو نو له معلومات ورکونکو څخه د ۱۳۸۸ کال د تلې او د کب د میاشتو تر مینځ راغونډ او د هغو معلوماتو پر بنسټ ولاړ دي چې د نیمه جوړښتي مرکو، غیر رسمي خبرو اترو شخصي توافقاتو څخه لاس ته راغلي دي. دغه معلومات د انټرنیټ له لارې د یوې دفتري څیړنې او په کابل کې د انتقالي عدالت په اړه د غونډو، کنفرانسونو او بحثونو په بهیر کې نور هم بشپړ شوي دي.

دغه سند د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې د "جګړې د میراثونو: عدالت، بیا پخلاینه او مخ ته پرتې لارو"تر سر لیک لاندې د څیړنېزو پروژو د یوې لړۍ لومړنی سند دی. په سیمه کې عملي کار چې د ۱۳۸۸ کال په پای کې په څلورو ولایتونو (کابل، بامیان، بدخشان اوغزنی) کې پیل شوی د ۱۳۹۰ کال تر پایه به دوام ومومي. دغه پروژه په افغانستان کې د انتقالي عدالت د ودې لپاره له هغو روانو هڅو څخه الهام اخلي. دغه سند هڅه کوي څو د جګړو میراثونو او د عدالت څخه تعبیر او دعدالت، او په ځایي ټولنو کې د افغانانو تر مینځ د سولې او بیا پخلاینې د غوښتنې په هکله د کیفیتي او ژورې پوهې د رامینځ ته کولو له لارې د بحثونو سره مرسته وکړي. د دې کار په تر سره کولو سره، سند غواړي چې د مخکینیو نه سپړل شوو نظریو لپاره، عدالت او بیا پخلاینې ته د لاس رسی لپاره د ځایي نوښتونو په ګډون، چاپیریال رامنځه کړي. په پای کې دغه سند هیله من دی چې داسې ستراتیژیګانی او میکانیزمونه مشخص کړي، چې ځایي ټولنو ته د پرمختګ لپاره لاره هواره کړي. د پروژې موخه دا ده څو دا ډاډمنه کړي چې پالیسي جوړونکی په افغانستان کې د سولې، بیا پخلاینې او انتقالي عدالت اړوند د بېلابېلو ټولنو له غوښتنو او لیوالتیا په هکله باخبره او پوره معلومات لري. همدارنګه غواړي له هغه بهیر سره مرسته وکړي چې عادي افغانان چې خلک دي او د افغانستان په جګړو کې ډیر زیات اغیزمن شوي دي ، په راتلونکي حساب ورکونه او د بیا پخلاینې په فعالیتونو کې مهم فعالین دي.

---

[10] د لیکوال مصاحبه د انتقالي عدالت د نړیوال مرکز یو استازی سره. کابل د لړم ۳ کال ۱۳۸۸. په کلیدي پالیسي جوړونکو فعالینو کې نظر داسې وو چې پر عدالت او د قانون پر څواکمنتیا باندې تمرکز، امنیت باندې ناوړه اغیزه کوي.

[11] مانی، د معافیت پای او په افغانستان کې د عدالت رامنځته کول.

[12] د دغه سند موخه دا نه دي چې د انتقالی عدالت روان ټول فعالیتونه وړاندې کړي او یا د زیات شمیر موسسو ستر، ژور او ارزښتناکه کړنی راوسپړی. د دې پرځای مقصد یې دا دی چې کلیدی نوښتونه او پروسې روښانه کړي.

[13] د افغانستان د اسلامی جمهوریت حکومت، د عمومی، ملی پخلاینه او ټیکاو قانون.(رسمی جریده، ۹۶۵ ګڼه) د لیندی ۱۴ کال ۱۳۸۷په دغه ویب پاڼه کې موندلای شئ. http://www.moj.gov.af/OGs/Officialgazette/Browse/Dari/OG_0965.htm

[14] د افغانستان د اسلامی جمهوریت حکومت، د سولی، پخلاینی او عدالت لپاره د عمل پلان (کابل د افغانستان حکومت کال ۱۳۸۴) کاپی د دغه ویب پانی څخه لاسته راوړای شئ. http://www.aihrc.org.af/actionplan_af.htm

# ۲. د پالیسي جوړولو چاپیریال

## ۲٫۱ د معافیت استقرار

په ۱۳۸۰ کال کې د بن پریکړه لیک د هغه څه پیل یې ځرګند کړچې ګڼ شمیر خلک هیله من وو چې د طالبانو له قوانینو او د رواني جګړې څخه به د سولې په لور اوښتون وي. په داسي حال کې چې هڅه کیده چې د بن په کنفرانس کې حاضرو ډلو د مشرانو، چې ځینې یې د بشري حقونو څخه په سرغړونو کې ښکیل وو خو د دوی همکاري د یوې موافقې د ترلاسه کولو لپاره خورا مهمه ګڼل کیده، د ناراضه کولو څخه ډډه وشي، نو د ملګرو ملتونو د منځګړيتوب ډلې، د جنګي جرمونو او د بشري حقونو د تیریو سره د معاملې لپاره د ماخذونو د شاملولو په موخه ټولې هڅې را کمې کړې.[15] وروستی تړون هم د ملګرو ملتونو د سولې د منځګړيتوب د تړون د زیاتو معیاری برخې یې (د بې وسلې کولو او ملکي کولو د ژمنو په ګډون) په پام کې ون نیولې.[16] په پای کې هیڅ یوه داسې هڅه و نه شوه چې یا خو برسیره شوي لاملونه او یا هم پر میلیونونو افغان قربانیانو باندې د جګړې پایلې او بنسټیز لاملونه په نښه شي.

په حقیقت کې د بن تړون د جګړه مارو ډلو ترمنځ د سولې یو تړون نه ؤ، بلکې د طالبانو ضد د څلورو ټاکل شویو ډلو مشران وو چې ایتلافی ځواکونو ته چې د طالبانو رژیم یې ړنګ کړ، بنسټیزې ډلې ګڼل کیدې.[17] د خبرو اترو پر مهال، د وسله والې جګړې یو لوری، طالبان او القاعده، که څه هم چې د جګړې یو مهم لوری ؤ خو د متحده ایالاتو له خوا تر بمباری لاندې راتلل، او تړون دوی یې له پامه غورځولې وو.

وروسته د بن د تړون د افغان لاسلیک کوونکو په ډله کې پر بشري حقونو د تیریو یو شمیر تورن کسان هم شامل شول پرته له دې چې عدالت ته ددوی د را ښکلو لپاره د کومې مهمې ژمنې لپار هڅه شوې وي.[18] وروسته بیا دا کار ددې لامل شو څو پیژندل شوې قومندانان په هیواد کې د خپل ځواک بنسټونه له سره جوړ کړي. ماني داسې استدلال کوي چې په هیواد د نا امنیو مهم لامل همدا وو چې قومندانانو وکولای شوای چې له شمالي ټلوالې سره په واک کې یوځای شي او د خپلو قومي، توکمیزو او تنظیمي ګټو لپاره په معافیت سره عمل وکړي.[19] د انتقالي عدالت د پیل لپاره د بن په تړون کې یوازنی لار دا وه چې دغه تړون د بخښنې د مادې څخه یې ډډه وکړه او د بشري حقونو یوه ملي ډله یې رامنځته کړه.[20] په همدې ډول یې هیواد د بشري حقونو په هکله د نړیوالو قانوني مکلفیتونو ته ژمن کړ.[21]

د ۱۳۸۱ کال د غبرګولي په میاشت کې په بیړنی لویه جرګه کې ورته چال چلند معافیت یې نور هم ټینګ کړ. د ارزوني معیارونه له نوماندو څخه غواړي چې دوی هغه ځرګندوني لاسلیک او سوګند یاد کړي چې دوی بې ګناه خلک یې نه دي وژلي او یا هم د نشه یي توکو په لیږد او ترهګری کې ښکیل نه وو. له دې سره سره په دغه جرګه کې ډیر داسي پیژندل شوی کسان وو چې له دغو شرایطو څخه یې سرغړونه کړې وه او پرته له کوم خنډ څخه یې ګډون کړی ؤ.[22] په پای کې د بن تړون او بیړنی لویې جرګې که څه هم لږ خو د دېلو تر مینځ د ځواک د شریکولو له لارې یې د دښمنۍ پر ختمولو او د تړون پر تضمین یې تمرکز درلود. د بهیر پر مهال، یوه موازي اړتیا څو اړین جوړښتي او سیستمیک او سازماني بدلونونه پلې او مشخص کړي څو سوله ټینګه او جګړې ته د بیا راګرځیدو څخه مخنیوي باندې سترګې پټې شوې.[23]

## ۲،۲ د انتقالي عدالت لپاره د عمل یو پلان او کلک غبرګون

افغانستان د سولې، بیا پخلاینې او عدالت لپاره د عمل یو ملی پلان (۱۳۸۴) او د بښنې، ملي بیا پخلاینې او ثبات قانون لري (۱۳۸۶). د عمل پلان چې ډیر تود بحث پرې شوی، د ۱۳۸۴ کال د لیندی په میاشت کې د کابینې له خوا کې په دقت سره تصویب شو او د وخت په سیاسي اجنډا کې یې انتقالي عدالت

---

[15] د ملګرو ملتونو مسوده جوړونکو کوښښ وکړ چې داسې یو متن ورزیات کړي چې موقته اداره د جنګی جرمونو او همدارنګه د بشر پرضد جرمونو لپاره عفوه نشته، خو دغه موضوع له پامه وغورځول شو. وکتل شی، روبین، په افغانستان کې انتقالی عدالت او بشری حقونه، د نور معلوماتو لپاره.

[16] روبین، په افغانستان کې انتقالی عدالت او بشری حقونه،۵۷۲

[17] روبین، په افغانستان کې انتقالی عدالت او بشری حقونه،۵۷۱

[18] د معافیت پاي او په افغانستان کې د عدالت رامنځته کول.

[19] د دي پر ځای بن پر ټولو پوځی ځواکونو باندي غږ وکړ چې د نوي اداری تر قوماندی راشی او په ملی پوځی ځواکونو کې مدغم شی. د افغانستان د نوي پیل پروګرام چې د څو واره ځنډ څخه په کال ۱۳۸۲ کې په کار پیل وکړ، دا یې وغده و نکړه چې بشپړ بی وسلی کول به تر سره کړي. د نورو معلوماتو لپاره وګورئ مانی، د معافیت پای او په افغانستان کې د عدالت رامنځته کول.

[20] د انتقالی عدالت نړیوال مرکز؛په افغانستان انتقالی عدالت،

[21] افغانستان د ۱۳۲۸ کال د ژینو کنوانسیون یې تایید کړی او هغه ته ژمن دی. د نسل وژنی کنوانسیون په کال ۱۳۲۷ کې او همدارنګه په ۱۳۴۷ کال کې د بشر پر ضد جرمونو او د جنګي جرمونو محدودیت نه تطبیق کول، د حقونو د له منځه وړلو قانون، د ښځو په وړاندي د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون کال ۱۳۵۷کې، د نژادی تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون، کال ۱۳۴۳ کې په ۱۳۶۳ کال کې د شکنجی پر ضد او نور ټول انسانی ضد کړنی، چلند او یا سزاګانو کنوانسیون، د مدنی او سیاسی حقونو نړیوال میثاق، په ۱۳۵۴ کال کې او د ماشومانو د حقونو کنوانسیون یې لاسلیک کړیدی.

[22] روبین، په افغانستان کې انتقالی عدالت او بشری حقونه،۴-۵۷۳

[23] [23] ماني، په افغانستان کې د معافییت پای ته رسیدل او د عدالت رامینځ ته کول،۲

ورزیات کړ.[24] په پلان کې دافغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د "عدالت لپاره غږ"(۱۳۸۴) د رپوټ وړاندیزونه هم شامل شول. دغه سند د یو مهم سند په توګه په افغاني ټولنه کې په پراخه کچه د عدالت غوښتنه او په ټول هیواد کې د بشري حقونو د تیریو د کچې غوښتنه کوي.[25] د عمل پلان پنځه مهم فعالیتونه یې په لاندې ډول طرح کړي: سمبولیک تدبیرونه، بنسټیز سمون، حقیقت موندنه، بیا پخلاینه او احتسابي تدبیرونه. همدارنګه د عمل پلان په مطلقه توګه یې ښنه رد کړې او وایې چې نه د اسلام دین او نه هم نړیوال قانون د بشر پر وړاندې د جرمونو په ګډون د جرمونو لپاره عمومي عفو نه ده منلې. ولسمشر کرزي په رسمی ډول دغه پلان یې د ۱۳۸۵ کال د حوت په ۲۱ نیټه، چې د بشري حقونو د نړیوالې ورځ سره سمون لري، په رسمی ډول پیل کړ. د عمل د پلان د پیل یو کلن ځنډ د دې ښکارندوی دی چې د نوموړې پلان په وړاندې د حکومت په دننه کې د پام وړ مخالفت شته. یو تن بهرني ځواب ویونکې چې د پلان په ترتیبولو کې یې ګډون درلود، څرګنده کړه چې په ځانګړې ډول دا د کرزي په باوری مشاورینو کې ډیر پیاوړی ؤ. په همدې ډول د عمل پلان په دواړو، د افغانستان په تړون لیک [26] ۱۳۸۵ کال او د افغانستان په ملي پرمختیایی ستراتیژی[27] ۱۳۸۷ کال کې د معیارونو په توګه شامل شوی دی.

"زما په آند، عمومي ښنه په هیواد کې د ټپونو د رغولو یوه لاره ده. خو که چیرې حساب ورکونه نه وي نو دا ټپونه به هیڅکله هم ونه رغیږي... که چیري دا د معافیت څخه د ملاتړ او د ظلم او بی رحمی د تر سره کولو په معنا وي. "

کای آیده په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومی سر منشی ځانګړی استازی (۱۳۸۷-۱۳۸۹) په افغانستان کې د خپل آخری وینا پر مهال.

د عمل په پلان کې د بیان شوو فعالیتونو د تر سره کولو لپاره یو لوړ زمانی چوکاټ په پام کې نیول شوی ؤ، چې د ۱۳۸۸ کال د کب په میاشت کې پای ته ورسید. وروسته بیا ولسمشر کرزي د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون او مدني ټولنې له خوا د نوموړې زماني چوکاټ د غځولو غوښتنه یې په مکرر ډول، رد کړه.[28] تر دې مهاله یواځنی فعالیت چې تر سره شوي دی، هغه د قربانیانو د ورځې نوښت او په لوړو پستونو کې د ټاکنې لپاره د ولسمشر د ځانګړی مشورتي بورد (چې په دریم او څلورمو برخو کې به پرې په مفصله توګه بحث وشي) را مینځ ته کول دي. مرکو وښودله چې ددې پلانپه د پلې کولو په مسوولو وزارتونو[29] کې او همدارنګه د نړیوالې ډیپلوماتیکې ټولنې د ځینو غړو په مینځ کې د عمل د پلان په هکله پوهاوی ډیر کمزوری دی. په داسې حال کې چې د افغانستان په ملي پراختیایي ستراتیژی کې د پلان د پلې کولو لپاره د عدلیې وزارت پر مسولیت باندی بیا ټینګار شوی دی.[30] د عدلي سکټور دولتی چارواکو په ډاګه کړه چې دوی د پلان له شتون څخه ناخبره دي.

د افغان حکومت زړه نا زړه چلند د دې لامل شو چې د یوې نړیوالې نادولتی موسسی مشر ته چې د عمل د پلان په اړه یې تبصره کړی وه او هغه یې یواځې "څو کلمې" ګڼلې وې، ترفیع ورکړه. د انتقالي عدالت د نړیوال مرکز یو استازی چې د پلان په جوړولو کې یې ګډون درلود وویل:

مونږ ته دوکه راکړل شوه؛.[31] سره له دې هم زیات شمیر نړیوال او کورني ځواب ویونکې تر اوسه په دې نظر دي چې دغه پلان د انتقالي عدالت د ملاتړ لپاره د نړیوالې او مدني ټولنې لپاره یو کاري چوکاټ دی. لکه څرنګه چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې یوه کارکوونکی داسې څرګنده کړه:

"دا چې کوم بل سند او یا سیاسي ژمنه به د حکومت له خوا توشیح شي یقیني نه ده. موږ تمه نلرو چې د یو بل شي په هکله ژمنه ووینو؛ د عمل پلان یواځینی سند دی چې موږ یې په لاس کې لرو."سربیره پر دې د انتقالي عدالت د نړیوال مرکز یو بل استازې وویل: "تر هغه مهاله چې فعالیتونه پلې نه شي، خو بیا هم د عمل پلان پرځای او مناسب دی".[32] نوموړې په ډاګه کړه چې څرنګه چې د عمل پلان د افغانستان د ملي پراختیایي ستراتیژی یوه برخه ده، نو کیدای شي دا هم ورته زمانی چوکاټ ولري. په حقیقت کې داسې ښکاري چې دملګرو ملتونو د امنیت شورا په قصدي ډول په خپله د ۱۳۸۸ کال د کب د میاشتې په اعلامیه کې پر افغان حکومت یې غږ وکړ څو د" افغانستان له تړون لیک سره سم د سولې ، عدالت او بیا پخلاینې لپاره د عمل د پلان د بشپړې پلې کیدنې تضمین وکړي."[33]

د ۱۳۸۵ کال د لیندي په ۲۶ نیټه، یعنی د عمل پلان د پلی کولو څخه اوه ورځې وروسته، د بشري حقونو د څار سازمان د ۱۳۸۴ کال په وینو ککړ

[24] د لیکوال مصاحبه، د نړیوالی ټولنی استازی، کابل د لیندی ۶ کال ۱۳۸۸

[25] د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون؛ د عدالت لپاره غږ؛

[26] د افغانستان تړون، (د بریالیتوبونو په دوام: ۱۳۸۵ کال د افغانستان په اړه د لندن کنفرانس د سلواغی ۱۳-۱۲ کال ۱۳۸۷

[27] د افغانستان د اسلامی جمهوریت حکومت، د افغانستان د ملی پراختیا ستراتیژی کابل د افغانستان حکومت کال ۱۳۸۷.

[28] د انتقالی عدالت د همغږی د ډلی په غونډه کې بحث وري کال ۱۳۸۷

[29] په اوه وزارتونو کې د اړیکی کسان وټاکل شو(عدلیه، کورنیو چارو، دفاع، اطلاعات او فرهنګ، د کور او ښارونو د پراختیا او د ښځو د چارو وزارتونه) چې د کړنو د پلی کولو مشری وکړي. دوي ټول د خپلو وزارتونو له خوا تشخیص او په کال ۱۳۸۶ د زمری په میاشت کې ګمارل شویدي.

[30] د افغانستان د اسلامی جمهوریت حکومت، دوهمه ستنه، ښه حکومتداری، عدالت او د قانون ځواکمنتیا، د افغانستان د ملی پراختیا ستراتیژی.

[31] د لیکوال مصاحبه، د نړیوالی ټولنی استازی، کابل د لیندی ۶ کال ۱۳۸۸

[32] د لیکوال مصاحبه، د نړیوالی ټولنی استازی،کابل د لیندی ۱ کال ۱۳۸۸

[33] د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۸۶۸ پریکړه لیک۳۰ پاراګراف د وري ۳ کال ۱۳۸۸

لاسونو تر سر لیک لاندې رپوټ کې د لومړي ځل لپاره د بشري حقونو څخه د سرغړونکو نومونه خپار کړل.[۳۴] له دې پېښو سره په غبرګون کې د ۱۳۸۵ کال د مرغومې په میاشت کې د افغانستان ولسي جرګې او وروسته د مشرانو جرګې د ملي ثبات او بیل پخلاینې پریکړه لیک یې تصویب کړ. قانون "ټولو سیاسي ځانګو او مخالفو ډلو ته چې د لنډ مهاله حکومت تر جوړېدو څخه وړاندې په جګړه کې ښکیل وو"، د عمومي بښنې اعلام وکړ. د دغه قانون د تسوید پر مهال، د افغانستان د علماو د شورا لوړ پوړو غړو یاد شوي قانون وغند او زیاته یې کړه چې د اسلامي قانون پر بنسټ یوازې د جرمونو قربانیان کولای شي مجرمان وبښي نه دولت.[۳۵]

ولسمشر کرزي نوموړی قانون وکوت تر څو د جنګی قربانیانو انفرادي حقونه تشخیص او تایید شي، د دې جوګه شي چې عدالت وغواړي او د هغو کسانو پر ضد چې پر جنګی جرمونو تورن دي شکایتونه درج کړي. بیا کتل شوې قانون (چې په عام ډول د عفوې د قانون په نوم پېژندل کیده) له محکمې څخه وړاندې پر یوه وګړې د تور د واردولو لپاره کوم چې ښایي قربانیانو او تورن ته باالقوه ځواک ورکړي. په دې توګه د قرباني له خوا د شکایت د نه شتون په صورت کې افغان چارواکې نه شي کولای په جنګی جرمونو تورن کسان په خپل سر تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي او حکومت ته دا اجازه ورکړي چې د مجرمانو د عدلي تعقیب او پلټنې لورې ته بدلون ورکړي. سر بېره پر دې په نورو هیوادونو کې کله چې عمومي عفو اعلانیږي، د سارې په ډول په جنوبې افریقا کې، د بشري حقونو له سرغړونکو څخه وغوښتل شول چې د حساب ورکونې سره مرسته وکړي او په سیاسي هڅول شویو جرمونو کې د خپل ګډون په هکله معلومات په ډاګه کړي. دغه قانون د بشري حقونو څخه د جدي تیریو د حساب ورکونې په برخه کې د افغانستان نړیوال قانوني مکلفیتونه نقضوي. مهمه دا ده کله چې افغانستان د ۱۳۸۱ کال د سلواغې په میاشت کې د روم لوزنامه یې تایید کړ، نو دا دنده یې په غاړه واخیستله چې د نړیوالو جرمونو مسؤلو کسانو په هکله دې عدلي اقدامات عملي کړي.[۳۶] همدارنګه لکه څرنګه چې د عمل په پلان کې راغلي دي، دا د ولسمشر کرزي له هغو ژمنو سره چې باید عدالت ولټوي او د معافیت پر وړاندې مبارزه وکړي، په ټکر کې دی. په حقیقت کې دا لا تر اوسه هم وربښانه نه ده چې آیا ولسمشر کرزي دغه قانون یې توشیح کړی دی. په ۱۳۸۷ کال کې دیوید ویسنر وویل چې ولسمشر کرزي دغه قانون د ۱۳۸۵ کال د کب په میاشت کې لاسلیک کړ.[۳۷] که څه هم چې په ۱۳۸۸ کال کې د ملګرو ملتونو د نړیوالې دوره یی بیا کتنی پر مهال، د افغانستان استازې د عفوې د قانون د حقوقي وضعیت په اړه و پوښتل شول، دوی داسې ځواب ورکړ چې : "که څه هم چې ملي شورا د ملي پخلاینې دغه قانون یې تصویب کړئ، خو ولسمشر کرزي هغه لا تر اوسه نه دی لاسلیک کړی. "[۳۸] په حقیقت کې دا د پام وړ ځواب نه ؤ. د اساسي قانون پر بنسټ، د یو قانون د تصویب لپاره د ولسمشر کرزي لاسلیک ته اړتیا نشته. د دې پر ځای، که چیرې ولسمشر د ملي شورا له خوا د کوم تصویب شوې سند سره موافق نه وي، نو دی کولای شي هغه سند په ۱۵ ورځو کې بېرته ولسي جرګې ته واستوي. کله چې د عفوې د قانون لومړنی مسوده ولسمشر کرزي ته ورسیده، د پارلمان د حقوقي سر چینو د وینا پر بنسټ، کرزي په دغه مسوده کې د پام وړ بدلونونه راوستل، چې وروسته دغه مسوده د دواړو خونو( ولسي جرګې او مشرانو جرګې) له خوا تایید شوه. کله چې قانون بیا ولسمشر ته واستول شي، نو دا د ۱۵ ورځو په دننه کې د یو توشیح شوې قانون حیثیت لري، پرته له دې چې دغه قانون لاسلیک کړي او که نه.[۳۹] په نړیوالې دوره یی بیا کتنه کې د کرزي پر لاسلیک باندې تمرکز ښایې د هغه د قانونیتوب له مسأ لې څخه د سترګې پټولو یوه هڅه وه.

د ۱۳۸۹ کال د پیل او د قانون له تاییدولو څخه کابو درې کاله وروسته د عفوې قانون نړیوال پام ځان ته را واړاوه. د ۱۳۸۸ کال د لیندۍ په میاشت[۴۰] کې په رسمي جریده کې (۹۶۵ګڼه)، د عمومي عفوې، ملي پخلاینې او ثبات د قانون تر خپریدو، ځینې وګړي د دغه قانون د حقوقي وضعیت په اړه ډاډمن نه وو. مخکې له دې چې دغه قانون په رسمي جریده کې خپور شي، د یوې ناحیې قاضی په خپله مرکه کې یې داسې وویل:

> موږ تر اوسه نه پوهیږو چې آیا دغه قانون توشیح شوي او که نه..... کله چې قوانین په پارلمان کې تصویب شي نو د سترې محکمې او عدلیې وزارت له خوا په رسمی جریده کې خپریږي. موږ تر اوسه د دوی له خوا داسې کوم قانون نه دی تر لاسه کړئ.

کله چې قانون په رسمي جریده کې خپور شو، نو د قانون د حقوقي وضعیت په اړه شک هم لیرې شو. که څه هم د قانون ناڅاپي خپریدل د افغانستان د مدني ټولنې او یو زیات شمیر نړیوالو نادولتی موسسو لکه د عفوې نړیوال سازمان، د انتقالي عدالت نړیوال مرکز، د بشري حقونو دڅار سازمان له خوا یې د عفوې د قانون پر وړاندې ویناوې یې وهڅولې. سربېره پر دې ، د هغه وخت د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړې استازې کای آیده په افغانستان کې

---

[۳۴] د بشری حقونو د څار سازمان؛په وینو ککړ لاسونه؛ د کابل او افغانستان تېر ناخوالی او د معافیت مشروعیت.؛(کابل د بشری حقونو د څار سازمان، ۱۳۸۴)

[۳۵] د لیکوال مصاحبه، د متحده ایالاتو د سولی د انستیتیوت د استازی سره،کابل د لیندی ۱۳ کال ۱۳۸۸

[۳۶] د نړیوال جنایی محکمی د روم اساسنامه: نړیوال جنایی محکمه په خپل قضایی صلاحیت کې دوه محدودیتونه لري. لومړی دا چې دوي پر داخلی محکمو باندی صلاحیت نلري مګر دا چې دغه کورنی محکمه وښیی چې دوي د دغه قضیی د څیړلو توان نلري، او دوهم دا چې دوي یوازی د هغو قضیو څېړنه کوي کوم چې په هغه هیواد کې د اساسنامی د تایید څخه وروسته واقع شوي.

[۳۷] ډیوېډ ویسنر ، ؛ آیا په افغانستان کې د انتقالی عدالت لپاره مناسب وخت دی؟؛(مید فورد ام ای: د فلچر ښوونځی،ال نخله، تفتس پوهنتون ۱۳۸۷) ۵ او د لیکوال مصاحبه د نادر نادری سره د افغانستان د بشری حقونو د کمیسیون ویاند. کابل، لړم ۲۷ کال ۱۳۸۸.

[۳۸] د ملګرو ملتونو عمومی اسامبله د نړیوالی دوره یی بیا کتنی ۵ غونډه کې د بشری حقونو د شورا کاری ډله، ژینو، د غویی ۱۴ تر ۲۵ کال ۱۳۸۸. ملی راپور د ۱۵ پاراګراف (الف) د بشری حقونو د شورا ضمیمه، ۴۳ پاراګراف پر بنسټ وړاندي شویدي.

[۳۹] د افغانستان اسلامی جمهوریت، د افغانستان اساسی قانون.(کابل : د افغانستان حکومت، ۱۳۸۳)

[۴۰] د ځانګړی استازی کای آیده وینا، د ښځو لپاره قانون، کابل د حوت ۱۴ کال ۱۳۸۸

په خپله وروستی وینا کې د عفوې د قانون په اړه یې خپله اندیښنه داسې څرګنده کړه:

> دوه میاشتې مخکې موږ ټول خبر شوو چې د عفوې یو قانون په رسمي جریده کې خپور شوی چې تر یو کال زیات د عامه خلکو له نظره پټ ساتل شوئ ؤ. دغه بهیر په خپله د جدي اندیښنو د راپیدا کیدو دلیل دی. او همدارنګه د هغه منځ پانګه هم. زما په آند، عمومي بښنه د یوه هیواد د ټپونو د رغولو یوه لار ده. خو دا ټپونه به هیڅکله هم روغ نشي که چیرې حساب ورکونه نه وي...او که چیرې دا د جزا څخه د معافیت او یا د تر سره شوو ظلمونود مجاز ګڼلو په مانا وي...[41]

د مدني ټولنې ګڼ شمیرسازمانونو (نړیوال او داخلي) د "سولې او بیا پیوستون د ملي پروګرام "د اعلانیدو په میاشت کې د نوموړي قانون د خپریدو د وخت په هکله بې پوښتنې طرح کړې.[42] مهمه دا ده چې د دریمې برخې په دویم بند کې د حکومت په واسطه د عدلي تعقیب څخه معافیت نور هم غځوي:

> هغه وسله واله کسان چې د افغانستان د حکومت پر خلاف دي، د دغه قانونتر تصویب وروسته، که چیرې دوی له مخالفت څخه لاس واخلي، د ملي پخلاینې له بهیر سره یوځای شي، د افغانستان اساسی قانون او د افغانستان د اسلامي جمهوریت د نورو قوانینو درناوی وکړي، دوی به د دغه قانون له ټولو ښیګڼو څخه برخمن شي.

د نوموړي قانون پر وخت خپریدل د بشري حقونو ځینې فعالین یې وهڅول چې څرګنده کړي چې دا مصالحې ته د طالبانو د هڅولو په موخه طرح شوی دی. که څه هم د ولسمشر ویاند وحید عمر وویل چې د قانون د نشر او د ملي پخلاینې د پلان تر منځ کومه اړیکه نشته.[43] د دې قانون د خپرولو ترشا مقصد د په پام کې نیولو پرته، کیدای شي دغه قانون په دې موخه وکارول شي څو طالبانوته دا څرګنده کړي چې که دوی خپلې وسلې پر ځمکه کیږدي، نو دوی به تر عدلي تعقیب لاندې رانشي. دا ارزښتناکه نه ده چې په پورته ذکر شوي بند کې د بښنې د قانون لپاره کوم زماني چوکاټ نه دی ذکر شوئ. د ټیورۍ له پلوه، دا په دې مانا دی چې عمومي بښنه د یوه نا څرګند وخت لپاره ده.

د عمومي بښنې قانون له وړاندې نه یې زیات سیاسي ارزښت درلود، چې د بشري حقونو سرغړونکو ته په حکومت کې د خپل واک د ساتلو لپاره یوه روښانه نښه وه. نوموړي قانون د انتقالي عدالت پلې کیدل بې نور هم پیچلی کړ، لکه څرنګه چې په نړیواله دوره یې بیا کتنه کې څرګنده شوې،" قانون د ځینو غلط فهمیو لامل شو چې له امله یې دغه پروژه (د عمل پلان) په ۱۳۸۷ کال کې پلې نشوه. لکه چې د یوې نړیوالې موسسې یوه استازي څرګنده کړه: د کاغذ دغه ټوټه یوه ستونزه ده. د بښنې د قانون پرنګونو بر لاسې کیدنه په نورو هیوادونو کې لیدل شوې ده. په دغه قانون کې بدلون اړین دی او یا هم باید قانون باطل اعلان شي. "

## ۳,۲ ملي بیاپیوستون

د عمومي بښنې قانون په باالقوه ډول د طالبانو پر بیا پیوستون او بیا پخلاینې، د حکومت وروستې ټینګار ته یې یو قانوني بنسټ برابر کړ. ولسمشر کرزي د ۱۳۸۹ کال د مرغومې په میاشت کې د لندن په کنفرانس کې " د ملي مصالحې او بیا پخلاینې د یوه نوي اغیزمن، روڼ او پایښت‌لرونکي پروګرام" څخه یې پرده پورته کړه چې په کې هغو طالبو بلواګرو ته چې له جګړې لاس اخلي د کار، روزنې، تقاعد او ځمکې وړاندیز شوی دی. [44] د لندن په کنفرانس کې د حکومت چارواکو وویل چې دوی به له دغه پلان څخه ملاتړ وکړي. ، د ۱۳۸۸ کال د غبرګولې د میاشتې ۱۱-۱۳ نیټې پورې د سولې جرګه په پام کې نیول شوې چې لنډه موده وروسته تر دې به د کابل کنفرانس هم په لاره واچول شي.[45] دغه پروګرام به د انتقالي عدالت لپاره څه پایلې ولري؟ اوس مهال داسې ښکاري چې پر عدالت به سترګې پټې شي او په همدې ډول په افغانستان کې د بښنې د خطرناک میراث په تایید کې پاتې راغلی.

دغه پروګرام به هغه طالبانو ته چې د جنګي جرمونو تر سره کوونکي دي دا امکان ورکړي چې خپلو ټولنو ته ، پرته له دې چې د هغوی د حساب ورکونې لپاره هڅه وشي او یا د قانون پر واکمنۍ د هغې د اغیزو د په پام کې نیولو پرته بیرته راستانه شي. د ۱۳۸۸ کال د وږی په میاشت کې د جرمونو نړیوالې محکمې اعلان وکړچې د ۱۳۸۲ کال راهیسی په افغانستان کې د طالبانو او نړیوالو ځواکونو له خوا د تر سره شوو جنایي تیریو کچه ، د پوښتنې او ګرویرنې وړ ده.[46] دغه پروګرام وروسته د بشري حقونو په فعالینو کې دا ډار پیدا کړ چې د بلواګرو سره د معاملې او د یوې چټکې سولې لپاره حکومت به د قربانیانو حقونه له پامه وغورځوي. که څه هم کیدای شي دغه مسله اوسنی تاوتریخوالی پای ته ورسوي، خو د افغانستان پر تلپاتې سوله به څه اغیزه ولري؟ لکه چې د افغانستان د خارنې او د افغانستان د مدني ټولنې یو افغان استازي داسې استدلال وکړ:

---

[41] د لندن د کنفرانس اعلامیه ۱۳۸۸

[42] جان بون، افغانستان په آرامی سره د طالبانو د عفوی قانون پلی کوي، ګاردین د حوت ۲۲ کال ۱۳۸۸

[43] ملی راپور ؛ نړیوال دوره یی بیا کتنه؛ ۴۳ پاراګراف

[44] د لندن د کنفرانس اعلامیه

[45] د لندن د کنفرانس اعلامیه

[46] جیمز رینل، نړیوال جنایی محکمه په افغانستان کې د جنګی جرمونو څیړنه کوي. د ملګرو ملتونو مطبعه (نیویارک کال ۱۳۸۸ د وږی ۱۹ .

موږ ته لازمه ده چې له خلکو څخه و پوښتو چې دوی ولې جرمونه تر سره کړي. پرته له دې به د دوی بیا پیوستون به ثبات، انتقالي عدالت او یا بل هر عمل ته هیڅ ګټه و نه رسوي. که چیرې موږ له طالبانو سره بیا پخلاینه کوو، موږ اړ یو چې دوی د انتقالي عدالت د میکانیزمونو په واسطه تصفیه کړو.

سر بیره پردې دغه بهیر به پر هغو غیر طالبو جنګي جنایتکارانو چې له وړاندې نه د حساب ورکونې لپاره مسوول ګڼل شوي څه اغیزه درلودلای شي؟

په افغانستان کې بیا پخل اینې ته پر رسیدو د دې پروګرام له ټینګار سره سره ، یو کس باید دا پوښتنه وکړي چې آیا دغه دولتي پالیسي د بیا پخلاینې لامل کیدای شي. اکثراً بیا پخلاینه، د دوه اړخیز باور پر بنسټ د نوو اړیکو د را مینځ ته کولو په موخه د پخوانیو د ښمنانو د سلوک او چال چلند د بدلون په توګه پیژندل کیږي.[47] د همدې تعبیر پر بنسټ عدالت د واقعي بیا پخلاینې بنسټیز اړخ جوړوي. بیا پخلاینه یو داسې بهیر دی چې کیدای شي څو لسیزې دوام وکړي. لیدریچ دغه بهیر یې د یوه ګډ او له یو بله سره تړلي فضا په توګه بیان کړئ چې د څلورو تولنیزو ځواکونو لکه "حقیقت، بښنه، عدالت او سولې"[48]، په واسطه نیول شوی دی. آیا بښنه له حقیقت او عدالت پرته به د بیا پخلاینې او تلپاتې سولې لامل شي؟

له دې کبله، اوسنی کړنلار د جګړې د حل د ستراتیژۍ د یوې برخې په توګه ښه تشریح کیږي. کیدای شي دا د سولې او بیا پخلاینې لپاره د شرایطو د رامنځته کولو لپاره د پیل یو ښه ټکی وي، خو دغه انګیرنه چې دا پخپله به بیا پخلاینه رامنځته کړي، په دې مانا ده چې هغه اوږد مهاله پالیسیګانې کوم چې د ټولنو تر مینځ د دوه اړخیز اعتماد او د نوو باورونو او پوهاوي د رامنځته کولو په موخه کارول شوي، به رد کړي. ښایي د جګړې د حل د رواني ستراتیژۍ د یوې برخې په توګه د اوسني پروګرام بیا ذهني کول به د دې پالیسۍ د موخو په هکله یو روڼ انځور را مینځ ته کړي.

د دې لپاره چې دغه پالیسي د یوې با ثباته سولې لپاره شرایط رامنځته کړي، نو لازمه ده چې د افغانستان د خلکو له نظره مشروعیت ولري. سر بیره پر دې هغه تمې چې ددې موخو ته د بر لاسي کیدو لپاره اړینې دي باید تنظیم شي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د انتقالي عدالت په هکله د څېړنې یوه موخه دا ده چې د خلکو احساس په ځانګړې توګه ددې پروګرام او په افغانستان کې د بیا پیوستون او بیا پخلاینې د ټولیزو مسألو په هکله راوسپړي.

## ۳ فعالین

کوم فعالین چې د انتقالي عدالت د اجندا ځېدلو ته لیواله دي له فشار څخه ډک په یوه چاپیریال کې کار کوي. د ۱۳۸۵ کال راهیسې ناوړه امنیتي وضعیت انتقالي عدالت او د عمل پلان یې له اجندا څخه بیل کړئ چې دا کار له عدالت څخه وړاندې د سولې د استدلال لامل شوئ. د بن د تړون له لاسلیکیدو کابو نه کاله وروسته، د بشري حقونو د سترو تیریو تر سره کوونکي لا هم په حکومتي جوړښتونو کې د واک خاوندان دي. د ملیشه ډلو بې وسلې کول بشپړ او بسیا نه وو، او داسې یو چاپیریال یې رامنځته کړ په کوم کې چې قربانیان په کې خپل ځان خوندي نه احساسوي او نه شي کولای چې تیري کوونکو ته ننګونه وکړي.[49]

ځینې خلک په رسمي قضایي نظام کې د ښېنې او د باور د نه شتون او د اوږده قانوني بهیر په هکله ناهیلي تر یوه حده د بلواګرۍ له زیاتیدو سره مرسته کوي. په ریښتیا سره هم ځینې افغانان د هیواد په سهیلي ناامنو سیمو کې د انصاف د ژر تر لاسه کولو په موخه طالبانو ته مراجعه کوي[50]. رتینګ استدلال کوي کله چې د امریکا تر مشرۍ لاندې ایتلافي ځواکونو هغه جنګسالارانو او قومندانانو ته، کوم چې د ۱۳۶۹ کال په نیمایي کې د دوی د ظلم له امله، د زیاتو افغانانو له نظره طالبان یو ښه بدیل ؤ، دا امکان په لاس ورکړ چې بیا ځواک تر لاسه کړي، نو ځکه د ۱۳۸۱ کال څخه وروسته په عمومي ډول بلواګرۍ مخ په پیاوړې کیدو شوه[51]. سربیره پر دې کله چې د بشري حقونو په اړه چال چلند تر یوې کچې یې وده موندله، نو داسې نه ښکاري چې د اوسنیو او پخوانیو تیرو ترمنځ اړیکه په قطعي توګه تایید شوې وي او د پخوانیو تیریو سره د معاملې لپاره په تګلار کې کوم موازي بدلون نه دی تر سترګو شوي. دا هغه چاپیریال دی په کوم کې چې درې واړه فعالین، د افغانستان حکومت، نړیواله او افغان مدني ټولنه کار کوي.

### ۱،۳ د افغانستان حکومت(GOA)

د نړیوالو بشري حقونو د لوزنامو له تصویب سره حکومتونه اړ دي چې دنوموړو لوزنامو له دندو او مکلفیتونو سره سم یو لړ کورني اقدامات تر سره کړي. افغان حکومت یو شمیر اړوندې لوزنامې یې تصویب کړې دي (۲۱ فوټ نوټ وګورئ) او په دې توګه باید په افغانستان کې د انتقالي عدالت د پلي کولو

[47] دانیل بار-تل او ګیما بیننګ، د پایل او پروسې په ډول د پخلاینې طبیعت،؛ د جګړې د حل څخه بیا تر پخلاینې پورې. د اکسفورډ پوهنتون مطبعه کال ۱۳۸۳ ۳۸-۱۱

[48] جان پاول لیدریچ، ؛مدنې ټولنه او پخلاینه؛نا آرامه سوله، د نړیوال جګړې د کنترول لپاره ننګونې. (واشنګټن ډي سي، د متحده ایالاتو د سولې انستیټیوت.)

[49] ویسنر، آیا په افغانستان د انتقالي عدالت لپاره ښه وخت دی؛۶.

[50] فرنک لویدیخ وګورئ،؛ په افغانستان کې عدالت او د یاغیتوب سره مبارزه: یوه ورکه اړیکه؛ آر یو اس آی ژورنال ۱۵۴ اول نمبر (۱۳۸۸ د حوت میاشت )و د انتقالي عدالت نړیوال مرکزد نړیوال دوره یې بیا کتنې لپاره د ملګرو ملتونو د بشرې حقونو د ۱۵ ناستې ته د افغانستان د حکومت وړاندیزونه/غوښتنې، می ۱۵-۱۴، (د انتقالي عدالت نړیوال مرکز: د لیندۍ ۱۴ کال ۱۳۸۷) او د قومونو د اړیکې دفتر؛ درې کاله وروسته: د اروزګان ولایت ټولنیز سیاسی شننه؛ ۱۳۸۵ — ۱۳۸۸ (کابل: ټي ایل او وری ۲۹ ۱۳۸۸ کال)

[51] توماس رتینګ،؛ بل اړخ، د افغان یاغیتوب بعدونه: لاملونه، فعالین او کړنلارې په اړه خبرې؛ (کابل: د افغانستان د شنوونکو شبکه، چنګاښ ۱۳۸۸ کال)

لومړني مسولېتونه پر غاړه واخلي. په داسې حال کې چې د حساب ورکونې او د معافیت سره د مبارزې لپاره یوائینې لیواله ډله په پارلمان کې د درېمې لارې تر نامه لاندې د شکریه بارکزۍ تر مشرۍ لاندې یوه ورډه ډله ده. دا ډله د نړیوالو کنفرانسونو، افغانې او نړیوالو رسنیو له لارې خلک هڅوې څو خپل حقونه وغواړي، خو د دوی غږ د ګڼ شمیر مخالفینو په منځ کې ډېر کمزوری دی[۵۲].

د ۱۳۸۸ کال د ولسمشریزو ټاکنو پر مهال له رمضان بشردوست څخه پرته، په ولسمشریزو نوماندانو کې هیڅ یو وتلی نوماند هم د پخوانیو تیریو د حساب ورکونې د مسلې په اړوند یې لفظي خبرې ونه کړې[۵۳]. د عمل د پلان د تصویب او پیل سره سره، داسې ښکاري چې ولسمشر کرزی هم د تیرو مسألو د پښه کولو په برخه کې لیواله نه ښکاري. په دې وروستیو کې هغه په خپل حکومت کې د جنګي جنایتکارانو د شتون په هکله نیوکه یې یوه "تیره شوې" موضوع او د افغانستان د دښمنانو "دسیسه" وبلله[۵۴] لکه څرنګه چې د افغانستان د څار او د افغانې مدني ټولنې یوه استازې وویل:

> موږ اوس هغه ولسمشر نه لرو چې دوه کاله پخوا مو درلود. کرزي په ۱۳۸۵ کال کې د بشري حقونو د نړیوالې ورځې پر مهال ژړل. وروسته په ۱۳۸۶ کال کې یې وویل چې انتقالي عدالت د بیا پخلاینې لپاره زیان اړونکی دی او سږ کال یې وویل چې دا یو بهرنی بهیر دی.

دا ښایې حیرانوونکې نه وي: چې په حکومت کې د بشري حقونو د پخوانیو تیرې کوونکو قومندانانو شتون او د پارلماني نوماندو[۵۵] په ارزونه کې کمزورتیا، د دې لامل شوه چې یو زیات شمیر هغه کسان د بشري حقونو د یو نه څرګند ریکارډ په درلودلو سره د افغانستان په سیاسي نخبه ګانو کې ګډ شي. د نیل کریتز په وینا، هغه پالیسي ګانې چې په قدرت کې د ځینو ټاکلو کسانو د ګوښه کولو یا محرومولو څخه ملاتړ کوي دایې تایید کړې، چې که څه هم چې دا شونې نه ده چې ټول کسان تر عدلي تعقیب لاندې راشي، "کوم باور کولای شي د کډوالو د بېرته راستنیدو لامل شي په داسې حال کې چې دوی وینې چې برحاله ښاروال د قومي پاکولو په کمپاین کې د دوی د کورونو په سوځولو کې مرسته کوې؟"[۵۶]. د ارزولو یو هر اړخیز بهیر کولای شي ټولنې ته دا احساس ورکړي چې عدالت او حساب ورکونه پیل شوې او کولای شي پر ادارو ستر باور رامنځته کړي. دا کولای شي قربانیانو ته دا پوهه ورکړي چې هغه کسان چې د دوی د ځورونې مسول دي، اجازه به ونلري چې په اغیزمنو پستونو کې پاتې شي[۵۷]. له دغه پستونو څخه د ځینو کسانو په ګوښه کولو کې کمزورتیا په افغانستان کې یې سیاسي چاپیریال اغیزمن کړئ لکه څرنګه چې د عمومي بښنې د قانون د تصویب پر مهال ولیدل شو.

د ۱۳۸۸ کال د ولسمشریزو او د ولایتي شوراګانو د ټاکنو پر مهال د بشري حقونو زیات شمیر فعالینو د ارزونې بهیر یې پر بشري حقونو د تیریو د شکمنو نوماندو د نه لیرې کولو له کبله تر نیوکو لاندې ونیو[۵۸]. د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون(ECC) ته دا صلاحیت ورکړل شوئ ؤ څو د رای پاڼو څخه د هغو نوماندو چې د ټاکنو د قانون له شرایطو سره برابر نه دې د لیرې کیدو د تضمین په ګډون سرغړونې اصلاح او دهغې په وړاندې اقدام وکړي.[۵۹] د تیرو ټاکنو په پرتله چې کابو ۵۷۰ سلنه وګړې له رای پاڼو څخه حذف شول ، د متحده ایالاتو د سولې د انستیتیوت یوه استازې په سمدستې توګه وویل چې د ارزونې په بهیر کې څه نا څه بریا تر سترګو کیده. په داسې حال کې چې زیات شمیر نړیوالو ځواب ویونکو پر افغان حکومت یې نیوکه وکړه، او نړیواله ټولنه یې پر حکومت د فشار د نه راوستلو له کبله تورنه کړه. لکه چې یوه ځواب ویونکې څرګنده کړه چې د ارزونې بهیر د نړیوالې ټولنې لږ پام یې ځان ته را واړاوه. د افغانستان د ټولټاکنو قانون هغه کسان چې پر بشري جرمونو، جنایي فعالیتونو یا هم د محکمې له خوا[۶۱] د مدني حقونو څخه بې برخه شوې وي، او یا هم هغه کسان چې د غیررسمي پوځې ځواکونو او یا په وسله والو ډلو پورې تړلې وي، په ټاکنو کې له نوماندۍ څخه بې برخې کوي[۶۲]. د یادونې وړ ده چې دغه قانون نشي کولای چې پر جنګي جرمونو او له بشري حقونو څخه سرغړونکې شکمن کسان په ټاکنو کې له نوماندۍ څخه بې برخې کړي. په دې توګه، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون یو کمیشنر استدلال وکړ چې د ټولټاکنو په قانون کې باید سمون راشي څو خلکو ته دا امکان ورکړي چې د عامه او غیر عامه اسنادو د په کارولو له لارې د بشري حقونو څخه د تیریو له کبله وارزول شي.

---

[۵۲] د لیکوال مرکه، شکریه بارکزۍ، کابل،لړم ۱ کال ۱۳۸۸.

[۵۳] د افغانستان څار، یولنډ راپور د حامد کرزی، اشرف غنی احمدزی او رمضان بشردوست ترمنځ یوه تلویزیونی بحث.؛ د عدالت څخه پرته امنیت به نه وي؛ د افغانستان څار، د ۱۳۸۸ کال د زمری ۲۷ نیټه

[۵۴] افغانستان څار، د افغان رسنیو د ارزونې خپرونه، ۶ نمبر،د وږی ۲۲ ۱۳۸۸. دغه اعلامیه په یوه خبری کنفرانس کې وشو چې د پارلمانی ټاکنو د پایلو وروسته په کابل کې اعلان شو. لاندې ویب پاڼې ته مراجعه وکړئ. http://www.watchafghanistan.org/files/Newsletter_06_English.pdf.

[۵۵] که څه هم د شفافیت معیارونه ډیر لږ مراعت شوي وو خو د ۱۳۸۴ کال پارلمانی ټاکنې په پراخه ډول تایید شول.

[۵۶] کریتز، د تیریو د اصطلاحاتو سره نږدی کیدل. ۱۳۹- ۱۴۰

[۵۷] کریتز، د تیریو د اصطلاحاتو سره نږدی کیدل. ۱۳۹- ۱۴۰

[۵۸] د بهرنیو چارو په وزارت کې د بشری حقونو د کړنلارې لپاره تیوری بنسټ په سیمینار کې د ډاکټری سیما ثمر وینا.

[۵۹] د افغانستان د اسلامی جمهوریت د ټاکنو د شکایتونو کمیسیون، د رایی اچولو او شمیرلو په اړه منل شوي شکایتونه، د ټاکنو د کمیسیون د شکایتونو کاری پلان کابل زمری ۲۰ کال ۱۳۸۸

[۶۰] دری د ولسمشر نوماندان نامناسب ونومول شول او د ۳۰۰۰ تنو د ولایتی شوراګانو دټاکنو د ګډونکونکو له لست څخه ۵۴ تنه وایستل شول چې د ولسمشریزی ټاکنو سره یو ځای لارې ته واچول شو.

[۶۱] حامد کرزی د افغانستان د انتقالي عدالت ولسمشر. د ټولټاکنو د قانون د تصویب په هکله د ولسمشر فرمان. کابل د ۱۱ ج کال ۱۳۸۳،د منلوشرطونه د اساسی قانون په ۶۲ ماده کې راغلي

[۶۲] د افغانستان حکومت، د ټولټاکنو قانون ۱۵ ماده دریم بند.

په پای کې د ۱۳۸۸ کال ولسمشریزو ټاکنو پر بشري حقونو د تیریو یو شمیرتورنو کسانو موقف یې د سیاسي نخبګانو په مینځ کې لا هم پیاوړی کړ. د کرزي له خوا د مرستیال په څېر د محمد قسیم فهیم ټاکنه چې په دواړو جنګي جرمونو او د نشه یي توکو په لیږد یا قاچاق تورن دی، د یو تن ځواب ویونکې له خوا د "انتقالي عدالت په نوښت کې د یو ستر په شاتګ" په څېر څرګند شو. د ټاکنو بهیر د دې لامل هم شو چې د ملي جنبش مشر عبدالرشید دوستم چې ګمان کیږی چې په ۱۳۸۰ کال کې د لیلي د دښتې [۶۳] د ډله ایزې وژنې په ګډون، په ډېرو جرمونوتورن دی، بېرته کابل ته راشي.

په لوړو پستونو کې د ګمارنې لپاره د ولسمشر د مشورتي پلاوې رامینځ ته کیدل د اعتماد وړ او حساب ورکونکو ادارو د هڅولو پر لور یو ګام دی او دا تضمینوي چې هغه کسان چې په بشري جرمونو تورن دي د واک پر ګدئ ناست نه دي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون هم د دې پلاوې غړیتوب لري. د عمل په پلان کې شامل او د ۱۳۸۶ کال د مرغومې په میاشت کې منځته راغی، دغه پلاوی له مرکزي حکومت ، قضاء ، والیان، د پولیسو قومندانان، ولسوالان او د امنیت د ریاست نوماندې په تیرو جرمونو کې د ښکیلتیا او د بشري حقونو د تیریو له نظره ارزوي .[۲۴] په لومړي سر کې دغه پلاوی د سیاسي، تخنیکي او مالي سرچینو د نشتوالې له امله خورا محدود ؤ. دغې مسألې د ۱۳۸۸ کال تر پیله د یو شمیر سیاسي پستونو کره ارزونه یې وځنډوله.[۶۵] که څه هم چې د خپل له رامینځ ته کیدو راهیسې ۲۶۸ کسان یې ارزولي او ۵۸ نور یې ګوښه کړې دي.[۲۲] که څه هم دغه بورډ اوس مهاله فعال دی خو خپل بریالیتوب او پیاوړتیا باید ثابته کړي.

دغه شان نوښتونه کیدای شي داسې یوې مشروع حکومتدارئ ته چې د بشري حقونو درناوی او د هغوی ساتنه وکړي وده ورکړي. دا په باالقوه ډول داسې یوچاپیریال رامنځته کوي چې په هغه کې ښایي انتقالي عدالت په نظر کې ونیول شي. لکه څرنګه چې د یوناما د بشري حقونو د څانګې یوه کارکوونکې څرګنده کړه: " د دغه پلاوې د خپلواکۍ پیاوړتیا اړینه ده. دا په د ښته کې یو ګل دی."[۶۷] د ۱۳۸۹ کال په پارلماني ټاکنو کې د ارزونې مسألې ته باید زیاته پاملرنه واړول شي. سره له دې چې پر بشري حقونو د تیریو د تورنو کسانو نفوذ په حکومت کې او پرته له دې چې په څرګنده توګه طالبان حساب ورکونکې وګڼل شي د هغوی پر بیا پیوستون ټینګار دوام لري، ممکنه نه ده چې انتقالي عدالت په راتلونکې کلونو کې د افغانستان د حکومت په لومړیتوبونو کې لوړ ځای ولري. د یوه نړیوال ځواب ویونکې له ویناوو څخه داسې څرګندیږي چې: "نوې حکومت ته به دا نوره هم ستونزمنه وي چې وکولای شي د انتقالي عدالت او یا د بل هر ډول عدالت په اړه خبرې وکړي".

## ۳,۲ نړیواله ټولنه

په افغانستان کې ګڼ شمیر ښکیل هیوادونه هم په خپله د هغو نړیوالو لوزنامو لاسلیک کوونکي دي چې له مخې یې د قربانیانو له حقونو څخه ساتنه کوي او د جرمونو نړیواله محکمه که په عمل کې نه خو لږ تر لږه په تیورئ کې د نسل وژنې، جنګي جرمونو او دبشر پر ضد جرمونو د معافیت څخه د مخنیوی په لار کې د نړیوالې ټولنې اراده څرګندوي.[۶۸] سر بیره پردې نړیوالې ټولنې په بېلا بېلو مناسبتونو په ترڅ کې په نورو هیوادونو کې د جنګي جرمونو او اړوندو ظلمونو په وړاندې د عمل نه کولو زیانونه تاییدوي.[۶۹] په همدې ډول نړیواله ټولنه دا مسولیت لري چې د افغانستان حکومت باندې ټینګار وکړي چې د عمل پلان د پلې کولو او د افغانستان د جنګی قربانیانو په اړوند خپلې ژمنې هیرې نه کړي. سر بیره پردې د افغانستان یو زیات شمیر نړیوال ملګري په څرګنده یې د جنګي جرمونو د حساب ورکونې پر مسأ له پټه خوله پاتې دي.

ددې مسألې تایید هم خورا مهم دی چې په نړیواله ټولنه کې ګڼ شمیر حکومتي، څو اړخیز او غیر حکومتی سازمانونه او دهغوی انفرادي پالسیګاني ځای لري. کیدای شي زیات شمیر کورني او نړیوال نادولتی سازمانونه په اجنډا کې د انتقالي عدالت د مسألې د ساتلو لپاره سره یو ټوټه شي.د ۱۳۸۸ کال د بشري حقونو د شورا د نړیوالې دوره یي بیاکتنې پر مهال، ناروې، مکسیکو او مراکش په ځانګړي ډول له افغان حکومت څخه وغوښتل چې د عمل پلان پلی کړي په داسې حال کې چې هالند او د چک جمهوریت د انتقالي عدالت اهمیت یې څرګند کړ.[۷۰] د ۱۳۸۷کال د لړم په میاشت کې د هالند حکومت د عدلي سکټور د ملاتړ لپاره د مالي مرستو نږدې لس میلیونه یورو یې بېرته واخیستل او پر دې یې استناد وکړ چې د عمل د پلان په پلې کولو کې بسیا پرمختګ نه دی شوئ.[۷۱] خو برسیره پر دې د هالند د سفارت د یوه چارواکې د وینا پر بنسټ، په حقیقت کې دغه عمل ډېره لږه اغیزه درلوده. په هغه وخت

[۶۳] جیمز رایسن، د طالبانو څخه وروسته د متحده ایالاتو نابشپړ عمل. نیویارک ټایمز. ۱۰ زمری کال ۱۳۸۸

[۶۴] د ا ا ج، ن ټ، د ا ټ. بورډ د حکومت او مدنی ټولنی د دوو استازو څخه جوړ شوي چې ولسمشر ټاکلی، یو کس د بشری حقونو د خ ک. څخه یوکس هم د همغږی او ارزونی د ګډ بورډ څخه چې د نورو څلورو غړو له خوا تایید شی.

[۶۵] د ا ع ن م، په افغانستان کې د انتقالي عدالت کورونولوژی (پرله پسی فعالیتونه) ۱۳۸۰ تر ۱۳۸۸ کال، نه خپور شوي سند.

[۶۶] د هییت غړي شخصی نظر ۲۴ مارچ کال ۱۳۸۸

[۶۷] د لیکوال مصاحبه، د یوناما د بشری حقونو د څانګې کارکوونکې/د انتقالي عدالت لپاره د اړیکی کس.

[۶۸] ستفین راتنر او جاسن ابراهامز، د نیرمبرګ د مشروعیت څخه وروسته، په نړیوال قانون کې د بشری حقونو څخه د تیری احتساب. د اکسفورد پوهنتون خپرونه ۱۳۸۰ (۷-۳۳۶)

[۶۹] مثالونه کیدای شی د پخوانی یوګوسلاویا لپاره په ۱۳۷۲ کال کې د ملګر ملتونو د امنیت شورا په پریکړه کې وکتل شي، چې د هغه وروسته په ۱۳۹۳ کال کې د روندا لپاره د نړیواله جنایی دیوان جوړشو. د دې پر بنسټ سرالیون د نړیوال جنایی محمکی د موډل په ډول یو ځانګړي محکمه جوړه کړه.

[۷۰] د ملګرو ملتونو د بشری حقونو شورا، نړیوال دوره یی بیا کتنه، د نړیوال دوره یی بیا کتنی د کاري ډلی راپور، ۱۲ ناسته ۲۰ جولای کال ۱۳۸۸.

[۷۱] اورپایی اتحادیه، د انتقالي عدالت غونډهو کابل زمری ۱۳۸۸.

کې د هالند حکومت د عدلي سکټور د ملاتړ لپاره مهم بسپنه ورکونکې نه وو؛ د هغوی د مرستو زیاتره برخه د بشري حقونو پر سازمانونو متمرکزې وې. سر بیره پر دې ژمنه شوې وه چې اړوندې پیسې باید د عدلي سکټور د پراختیا لپاره وکارول شي، پدې مانا چې د هیڅ یوه پروګرام فعالیتونه نه وو په نښه شوي. د همدې سفارت د یوه بل چارواکې په وینا په یوه پیښه کې دغه پریکړه د څو تنو نړیوالو فعالینو له خوا وستایل شوه خو د افغانستان حکومت کوم رسمي ځواب ورنکړ.

نړیواله مدني ټولنه هم پر دې مسألې کار کوي چې د انتقالي عدالت موضوع په رسنیو، مدني ټولنې او د ملکي افغانانو په مینځ کې ژوندۍ وساتي. د بیلګې په توګه، (FES) د انتقالي عدالت په اړه ورکشاپونه، ګردي میزونه او لکچرونه په لاره اچوي.[72] په ۱۳۸۷ کال کې د قربانیانو د ورځې د لمانځلو پر مهال، یوناما د ("رغوونکو اوښکو") په نامه یو ویډیویي فلم جوړ کړئ ؤ چې په ملي کچه له ټولو شبکو له لارې خپور شو. د ویډیو موخه دا وه چې د افغانستان له خلکو سره مرسته وکړي څو د تیرو وختونو د په نښه کولو لپاره پر لارو چارو بحث وشي.[73] د متحده ایالاتو د سولې انستیتیوت هم یو فلم د "حقیقت سره مخامخ کیدل" په نامه جوړ او په دری ژبه یې دوبله کړ چې دغه فلم د حقیقت موندنې د کمیسیون وندې پورې اړوند دی. دغه فلم په ۱۳۸۸ کال کې په کابل او بامیان کې ننداري ته وړاندې شو.[74] لکه څرنګه چې په څلورمه برخه کې به پر دې موضوع بحث وشي، نړیوالې مدني ټولنې هم د جنګي جرمونو، د بشري حقونو څخه د سرغړونو او د ډله ییزو قبرونو د موندلو او ساتنې د مستندولو له بهیر سره د مرستې لپاره په دغو روانو هڅو کې یې برخه درلوده.

د دغو هڅو د اغیزې ارزول خورا ستونزمن کار دی. د یوناما د بشري حقونو د څانګې د یوه کارکوونکې د خبرو پر بنسټ، د پارلمان ځینو غړو وویل چې د دوی ویډیویي فلم په دې وتوانیدلو چې د تیر د په نښه کولو د اړتیا لپاره بحث له سره پیل کړي. نادولتي سازمانونو هم په ښکاره ډول یې دغه نوښت ستایلی دی. د انتقالي عدالت په اړه د چارواکو چوپتیا او سترګې پټولو ته په پام سره په دې هکله شک را مینځ ته شوئ چې آیا نوموړې هڅې به پر افغان وګړو کومه ستره اغیزه ولري. لکه څرنګه چې د متحده ایالاتو د سولې د انستیتیوت یوه استازې وویل، په بامیانو کې د فلم له ښودلو وروسته د ننداره چیانو سره یو بحث ترسره شو چې په دې موضوع یې تمرکز درلود چې آیا دا له افغانستان او په ځانګړې ډول د دوی له سیمې سره اړیکه لري او که نه. د ویډیو محتوا د افغانستان سره ډیر توپیر درلود، نو ځکه ننداره چیانو نشوای لیدلای چې دا به پر دوی په څه ډول عملي شي. همدا راز څرګنده شوه چې په فلم کې د انتقالي عدالت او په نورو هیوادونو کې د هغه د په کارولو په هکله یې پوهه رامینځ ته کړې ده. په داسې حال کې چې د دغه ډول پوهې د رامینځ ته کولو د هڅوسمدستي ګټې ژر نه څرګندیږي خو کیدای شي چې د وخت په تیریدو سره د قربانیانو په ځواکمنولو کې مرسته وکړي.

د ۱۳۸۸ کال ولسمشریزو ټاکنو د نړیوالو فعالینو لومړیتوبونه یې اغیزمن کړل. د یو نوي حکومت لرلید او د انتقالي عدالت سیاسي او منزوي کول، دا یې څرګنده کړه چې د موجوده حکومت له پاتې وروستیوشپږو میاشتو څخه لږه تمه کیدای شي. هغه فعالین چې د انتقالي عدالت د اجنډا هڅولو ته لیواله وو د هغه پر ځای یې پریکړه وکړه څو له وخت څخه د شبکو د رامینځ ته کولو، د فعالیتونو د پلان جوړونې لپاره ګټه واخلي او دا تضمین کړي چې مدني ټولنه پر راتلونکي حکومت د فشار اچولو لپاره په یوه پیاوړې موقف کې ده.[75] یو پرمختګ د نړیوالې همکارۍ نوښت ؤ چې د اروپایي ټولنې د ځانګړې استازې د دفتر له خوا وشو. دغه نوښت د سفارتونو او مدني ټولنو استازې یې د همکارۍ د زیاتولو، او د انتقالي عدالت په برخه کې د کار د څرنګوالې په هکله د پوهې او ستراتیژۍ د شریکولو په موخه سره یوځای کړل.[76] سره له دې چې د نوموړې کاري ډلې غونډې د ۱۳۸۸ کال د دوبې په پای کې پای ته ورسیدې خو ښایي د نړیوالو فعالینو تر منځ د دغو غونډو بیا پیلیدل به په همدغه کچه د انتقالي عدالت د فعالیت په پیاوړي کولو کې مرسته وکړي.

نړیوال ځواب ویونکو دا څرګنده کړه چې د انتقالي عدالت په اړوند د افغان حکومت نه لیوالیتا د دې لامل شو چې نړیواله ټولنه خپله پاملرنه افغان مدني ټولنې لور ته راواړوي. یوناما، د اروپایي ټولنې پلاوې او یو لړ نړیوالو نادولتي سازمانونو د افغاني سازمانونو لپاره د مدافعې، رسنیز پوهاوي او د انتقالي عدالت د اړوندو موضوعګانو په هکله د وړتیا د لوړولو بیلابیل ورکشاپونه، بحثونه او روزنیزې ناستې تره سره کړې. دغو سازمانونو مالي او لوژستیکي مرستې یې هم برابرې کړې. اروپایي ټولنې چې یو ځل بیا یې انتقالي عدالت د تمرکز ډګر وګرځاوه، او په دې توګه د افغان او نړیوالې مدني ټولنې سره مالي مرسته کوي[77]. یوناما هڅه کوي چې په افغانستان کې د قربانیانو ډلو ته پراختیا ورکړي[78] په داسې حال کې چې د پرانیستې ټولنې انستیتیوت لکه د عدالت لپاره د یووالي بنسټ، د قربانیانو ډلو ته مهمې مالي مرستې برابروي.[79]

> "[نړیواله ټولنه] ټاکلې نظریې راټولوي، د هغو سره لوبې کوي، او بیا وروسته سترې کیږي."
>
> د انتقالی عدالت د نړیوال مرکز استازی

[72] فریدریخ ایبرت س، استازی

[73] د لیکوال مصاحبه، د یوناما د بشری حقونو د څانګې کارکوونکې/د انتقالي عدالت لپاره د اړیکی کس.

[74] د لیکوال مصاحبه، د متحده ایالاتو د سولی د انستیتیوت استازی.

[75] د مدنی ټولنو په اړوند اخری راپورو؛ انتقالي عدالت او د مستند کولو ورکشاپ؛ کابل، ۱۷- ۱۹ حوت کال ۱۳۸۸، ورکشاپ د افغانستان د بشری حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا جوړ او داع ن م ،ن خ ا، او د م ا د س ا، له خوا ملاتړ شوي وو.

[76] معلومات دغونډو د ګډونوالو څخه راټول شوي.

[77] د لیکوال مصاحبه، د نړیوالی ټولنی استازی،کابل د لیندی ۶ کال ۱۳۸۸

[78] د لیکوال مصاحبه، د یوناما د بشری حقونو د څانګې کارکوونکې/د انتقالي عدالت لپاره د اړیکی کس.

[79] د نړیوال خلاص انستیتیوت، د لیکوال مصاحبه، د نړیوال خلاص انستیتیوت د هیواد په کچه مشر کابل ۳۰ لړم کال ۱۳۸۸.

که څه هم چي دغه نړیوال فعالین تر اوسه د افغانی مدني ټولني له خوا د نه بسیا ملاتړ له امله تر نیوکو لاندي دي. د انتقالي عدالت د نړیوال مرکز یوه استازې دغه نیوکي یې تایید کړې، دا څرګنده ده چي "نړیواله ټولنه ټاکلي نظریې راټولي، د هغو سره ساعت تیروي، او بیا وروسته ستومانه کیږي."[۸۰] د انتقالي عدالت په اړوند دغه په اصطلاح "موسمی کړنلار" د نړیوال فعال له نظره، د مدني ټولني سازمانونه کمزوري کوي او په نوموړي بهیر کي پر هغوی باور راکموي. د افغاني سازمانونو دوو تنو استازو د مرکي پر مهال د نړیوالو ټولنو د مرستو، په ځانګړي ډول د مالی مرستو، په اړوند یې خپله ناهیلي څرګنده کړه. په داسي حال کي چي یو نړیوال ځواب ویونکي څرګنده کړه چي دا تل آسانه نه ده چي د لږ وړتیا درلودونکو افغانو سازمانونو سره مالی مرسته وشي او دا یې وپوښتل چي آیا د مدني ټولني سازمانونه کولای شي د بسپنه ورکوونکو اړیکی کنټرول کړي.

سربیره پر دې په ټولیزه توګه د افغانستان حکومت او زیات شمیر بهرني حکومتونه د انتقالي عدالت د موضوع په هکله خپلي چوپتیا ته ادامه ورکوي. د متحده ایالاتو د قانون د واکمنی نوې ستراتیژۍ هم داسي یوه موخه لري "څو د انتقالي عدالت لپاره د یوه رغنده د عمل پلان په بیا طرح کولو او پلي کولو کي د افغان حکومت سره مرسته وکړي".[۸۱] د سولي او بیاپیوستون د پروګرام لپاره د نړیوالی ټولني اوسنیو مرستو ته په پام سره دا روښانه نه ده چي په دغه ډګر کي به څومره نوري هڅي به وشي. که چیري انتقالي عدالت د طالبانو سره د سولي په لار کي د یو خنډ په توګه کتل کیږي، نو دا شوني نه ده چي د نړیوالي ټولني زیاته برخه د ربښتیني او پاییدونکي سولي پایلو ته له پاملرني پرته د جنګي جرمونو حساب ورکونه به وهڅوي.

## ۳٫۳ افغان مدني ټولنه

په افغانستان کي د انتقالي عدالت د کمزوری بهیر مشري د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا کیږي، چي په ۱۳۸۱ کال کي د ولسمشر د فرمان له لارې را مینځته شو او دنده یې د بشري حقونو د سرغړونو په نښه کول او هغي ته رسید ګي ده.[۸۲] په داسي حال کي چي د مدني ټولنو او رسنیو له لارې د انتقالي عدالت د ودې لپاره ژمني او لیوالتیا مخ پرزیاتیدو دي او په مخ په زیاتیدونکي توګه یې بیلابیل ډولونه غوره کړې دي. د ۱۳۸۸کال د سلواغي په میاشت کي د افغانستان د انتقالي عدالت د همغږۍ د ډلي رامینځ ته کیدل، د افغان مدني ټولنو له ۲۰ څخه زیات استازې یې سره راغونډ کړي چي د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون، یوناما، د انتقالي عدالت نړیوال مرکز او نورو نړیوالو موسسو له خوا یې ملاتړ کیږي چي د سازمانونو د انفرادي غږ په پورته کولو کي یې مرسته کړې ، د معلوماتو شریکول یې آسانه او د انتقالي عدالت فعالیتونه یې همغږي کړې دي.

افغان مدني ټولني په مخ په زیاتیدونکي توګه ډادمني او ستراتیژیکي شوي دي او د انتقالي عدالت د مسألي د پورته کولو لپاره د رسنیو او د ځینو مهمو پیښو څخه د یوې تګلارې په توګه ګټه پورته کوي. د ۲۰۱۰ کال د لندن په کنفرانس کي دوی د افغانستان حکومت او نړیوالي ټولني ته د غوښتنو او وړاندیزونو یو موټي اعلامیه یې برابره کړه. په دې وروستیو کي د انتقالي عدالت د همغږۍ ډلي د بښني د قانون پر ضد یوه اعلامیه هم جوړه کړه. د دې سره جوخت مطبوعاتي کنفرانس د افغانستان د ټلویزیون او همدارنګه د چاپي رسنیو (لکه اریانا، د لومړي چینل ټلویزیون او د ۸ صبح ورځپاڼی) له خوا تر پوښښ لاندي ونیول شو. ګڼ شمیر افغانی نادولتی سازمانونو او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون د انتقالي عدالت، د تیرحال مستندول او د بشري حقونو د اوسنیو سرغړونو په اړه یې عامه پوهاوی لوړ کړ او هڅه یې وکړه څو دا تضمین کړي چي جګړي او د هغوي قربانیان چي کړاوونه یې ګاللي نه دي هېر شوي. د قربانیانو د ملاتړ شبکو لیواله ټولني یې رامنځته کړي، یو ګرځنده تیاتر د بښني د میراث په اړه غبرګونونه هڅوي، او قربانیانو خپلی شخصی کیسي او شواهد له دوی سره شریکي کړي چي د ځینو ورځپاڼو او راډیویي پروګرامونو له لارې هم خپري شوي.

د دغو هڅو سره سره د انتقالي عدالت د په نښه کولو او پرپالیسي جوړونکو د نفوذ لپاره د مدني ټولني وړتیا ډیره کمزوری ده. یواځي یوڅو سازمانونو هڅه وکړه چي د ځانګړو مسألو لکه د قربانیانو سمبالتیا، مستندول، د پوهاوي لوړول او روزنیزو پروګرامونو په اړه وړتیاوې پراخي کړي[۸۳]. سر بیره پردې، افغاني رسنۍ د انتقالي عدالت په اړه په پراخه توګه پټه خوله پاتي دي.[۸۴] له بلي خوا د مدني ټولني ځینو ځواب ویونکو دا څرګنده کړه چي داخلي ویش او د همغږۍ نشتوالی د مدني ټولني او په ځانګړي ډول د انتقالي عدالت د همغږۍ د ډلي اغیزمنتیا کمزوري کوي. یو نړیوال ځواب ویونکي داسي تبصره وکړه چي: "دا لاهم حیرانونکي ده چي د ډلي تر مینځ د باور او د معلوماتو د شریکولو روحیه څومره کمزوري ده." د انتقالي عدالت د همغږۍ د ډلي یوه غړي داسي تبصره وکړه چي بسیا جدی فعالیتونه نه ترسره کیږي او خلک په منظم ډول په غونډو کي ګډون نه کوي. په دې وروستیو کي دې ډلي هڅه وکړه چي د خپل د بیاجوړښت له لارې پر دغو نیمګړتیاوو بر لاسي شي:

---

[۸۰] د لیکوال مرکه، د انتقالي عدالت د نړیوال مرکز استازی، ۱۷لړم کال ۱۳۸۸

[۸۱] د متحده ایالاتو د قانون ځواکمنتیا ستراتیژي، لومړي ستنه، ۶. که څه دوهمه ستنه لا تراوسه د پنټاګون له خوا ندي امضا شوي، خو پر دریو نورو توافق شوي.

[۸۲] د بحران نړیواله ډله،؛د افغانستان عدلی سمون او انتقالي عدالت؛ د آسیا راپور نمبر ۴۵، کابل/بروسل د ب ن د، جدی ۱۳۸۲؛۱۳. د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کمیسیون د شبه قضایی ځواک سره پیاوړی شوي چي د دي توان ولري چي هر افغان وګړی څخه پوښتنه وکړي، هغه د شاهد په ډول امتحان کړي، دوي اړ کړي چي مستند شواهد وړاندی کړي چي له ځانه سره لری او یا د دوي تر کنټرول لاندي دي.

[۸۳] د انتقالي عدالت نړیوال مرکز؛ د نړیوالی دوره یی بیاکتنی ته وړاندیز/غوښتنه

[۸۴] د افغانستان څار، انتقالي عدالت د نړیوال مرکز له خوا تمویل، په هرو دوو میاشتو کي د څارنی یو رسنیز خپرونی جوړول. دغه څارنه د افغانی ورځپاڼومسلی، د طالبانو سره دخبرو نیولی بیا ترانتقالي عدالته پوری، تر بحث لاندي نیسی. دغه خپرونه د انتقالي عدالت په اړه د موجوده پوښښ لپاره یو ګټور شاخص دی.

موخې او مقصدونه رامنځته کړي؛ د ګډونکوونکو اصلي ډله جوړه؛ او د عدالت په هکله د خلکو د پوهاوي په موخه دې د رسنیو یوه ستراتیژي رامینځته کړي.[85] د دې نړیوالو ملاتړ کوونکو (یوناما، د انتقالي عدالت نړیوال مرکز، د پرانیستې ټولنې انستیتیوت، د متحده ایالاتو د سولې انستیتیوت او داسې نور) ته به لازمه وي چې د انتقالي عدالت د همغږۍ د ډلې د ورتیا د پیاوړې کولو لپاره خپل ملاتړ ته ادامه ورکړي تر څو دا تضمین کړي چې دغه خوځښت له منځه نه دی تللی او ډله خپل فعالیت ته ادامه ورکوي.

د مدني ټولنې زیاتره نوښتونه په کابل پورې محدود دي او نورو سیمو ته ډېره کم لاسرسي لري.[86] امنیت او د مالي سرچینې د هغه اصلي لامل بلل کیږي، لکه څرنګه چې د انتقالي عدالت د نړیوال مرکز یوه ځواب ویونکي څرګنده کړه ؛ "کله چې موږ روزنې تر سره کوو، په ولایتونو کې د روزنې لپاره د کسانو په موندلو کې خنډ نشته، خو مالي مرسته هلته نه رسیږي، او که کومه پیښه وشي نو دوی ډېرلږ خوندي دي."[87] د پرانیستې ټولنې د انستیتیوت د مشر په وینا، په ولایتونو کې شته امنیتي ستونزې د انتقالي عدالت د پروژو د پراختیا لپاره د پلانونو په وړاندې یې خنډ را مینځ ته کړئ دی. دا به افغان او نړیوالو ټولنو ته یوه ننګونه وي چې وکولای شي داسې لارې ومومي چې زونونه او ولایتونه سره ونښلوي.

د افغان او نړیوالو مدني ټولنو او حکومت تر منځ د اړیکو نه شتون یوه بله د اندیښنې وړ مسأله ده. د انتقالي عدالت د نړیوال مرکز یوه بل ځواب ویونکي څرګنده کړه چې "ستونزه دا ده چې د افغان حکومت چوپتیا، مدني ټولنه یې د یوې ونډې د لوبولو لپاره له ستونزو سره مخامخ کړې ده."[88] که څه هم چې یو نړیوال کارپوه په ډاګه کړه چې په ګواتیمالا کې د بشري حقونو موسسې په پرله پسې ډول د حکومت سره سلامشورې کولې، که څه هم چې حکومت د اعدامونو او لادرکه کولو مسول ؤ. په ارجنټاین کې حکومت دې ته لیواله نه ؤ خو مدني ټولنې پرې فشار اچولو. په بنسټیزه توګه د تیر مهال د په نښه کولو لپاره لازمه ده چې سیاسي ارادې رامینځ ته شي او سیاسي اداري په کې ښکیلې وي. دا ډیره مهمه ده چې حکومت بیا خبرواترو ته وهڅول شي، آن که چیرې دا پر کاغذ د هغوي د مسولیتونو د لیکلو په مفهوم هم وي. ددې کار د کولو لپاره د لارو چارو موندل یوه ننګونه ده.

# ۴. د انتقالي عدالت فعالیتونه او بهیرونه

د انتقالي عدالت په اړه د فعالینو په کار کې د نیمګړتیاوو او ننګونو سر سره، ملي او نړیوالو فعالینو د جنګي جرمونو لپاره د حساب ورکونې، د تیر سره د مقابلې او د افغانستان د جګړو قربانیانو ته د رسیدلو زیانونو د جبران سره د مرستې او ملاتړ لپاره په پرلپسې ډول بیلا بیل ارزښتناک بهیرونه یې تعقیب کړي دي. دغه برخه ځینې دغه یاد شوې مسألې په نښه کوي او د هغوی ګټې او نیمګړتیاوې راسپړي.

## ۱،۴ قضایي حساب ورکونه

په افغانستان کې د ځینو پرمختیاوو سره سره، د قانون د واکمنۍ او د امنیتي سکتور د سمون په برخه کې د بنسټیز بهیر نشتوالی لیدل کیږي. د افغان ملي پولیس او رسمي عدلي سکتور اداري فاسدې ګڼل کیږي او د عامه باور څخه ډیر لږ برخمن دی.[89] قاضیان او حقوق پوهان لاهم په دواړو اسلامي او غیر اسلامي افغاني قوانینو کې د پوره پوهې او روزنې د کمښت سره مخامخ دي. ویسنر استدلال کوي چې په ځینو سیمو کې ملیشه قومندانان بیلابیل قاضیان او څارنوالان تر خپل کنټرول لاندې لري، په داسې حال کې چې قاضیان د نه بسیا معاش له کبله فساد او بډو اخیستلو ته اړ دي.[90] په دې توګه د عدلي سکتور یوه ځواب ویونکي په داسې حال کې چې په دې هکله چې د جنګي جنایتکارانو د عدلي تعقیب لپاره دا سم وخت نه دی خپل نظر یې څرګند کړ داسې استدلال یې وکړ: "که د افغانستان قضایي سیستم پر نورو تر سره شوو جرمونو قضایي واک نه لري، نو پر جنګي جرمونو به یې څنګه ولري؟"

که چیرې په داخلي محکمو کې د جنګي جرمونو لپاره حساب ورکونه نه شي تامینیدای ، نو آیا د نړیوالې جنایي محکمې لپاره کومه ونډه شته؟ که چیرې دولتونه ونه غواړي او یا په دې ونه توانیږي چې د جګړې د قربانیانو لپاره په سمه توګه عدالت تامین کړي نو نړیواله جنایي محکمه ددې کار لپاره فرصت رامینځ ته کوي.[91]

> که د افغانستان عدلي سیستم پر نورو جرمونو قضایي واک نه لري، نو پر جنګي جرمونو به یې څنګه ولري؟؛
>
> یو افغان قضایي ځواب ویونکی

د ۱۳۸۱ کال د سلواغې په میاشت کې د روم د لوزنامې د تصویب سره، افغانستان د هغه تر قضایي واک لاندې

[85] د انتقالي عدالت د همغږۍ د ډلې غونډه، کابل،۲۷ لړم کال ۱۳۸۸

[86] د نړیوال خلاص انستیتیوت د پراخو پروژو پایلې، د لیکوال مصاحبه، د نړیوال خلاص انستیتیوت د هیواد په کچه مشر.

[87] د لیکوال مرکه، د انتقالي عدالت د نړیوال مرکز استازی، لیندی ۲کال ۱۳۸۸.

[88] د لیکوال مرکه، د انتقالي عدالت د نړیوال مرکز استازی، لیندی ۲ کال ۱۳۸۸.

[89] د انتقالي عدالت نړیوال مرکز، ؛ د نړیوالې دروه یی بیا کتنې لپاره وړاندیزونه/غوښتنې. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره، پر ټولنو ولاړ د ستونزو پر حلولو کار کوي او همدارنګه د ولسوالۍ په سطحه د عدلی کارکوونکو د فساد په اړه شواهد وموندلې، په ځانګړي ډول وګورئ، دیبورا سمیت، ؛په ننګرهار کې پرټولنو ولاړ د ستونزو حل؛ کابل ۱۳۸۸.

[90] ویسنر، ؛آیا د انتقالي عدالت لپاره په افغانستان کې مناسب وخت دی.؛۷-۶

[91] میندیز، نړیواله جنایی محکمه، ۴۳-۳۹، د روم اساسنامه نړیواله جنایی محکمه رامنځته کوی، نیټه ۲۶ جوزا کال ۱۳۷۷. مخکی له دې چې په کال ۱۳۸۰ کې د روم اساسنامه نافذه شي، اړتیا وه چې ۶۰ هیوادونه هغه تایید کړي.

راځي.[۹۲] په افغانستان کې د نړیوالې جنايي محکمې د بالقوې وندې لپاره لیوالتیا د ۱۳۸۸ کال د ورې په میاشت کې د ځارنوالی د رییس، لویس مورینواوکمپو د دې اعلامیې سره وهڅول شوه چې: د جنګې جرمونو پلټونکې د په افغانستان کې د ۱۳۸۰ کال راهیسې د امریکې د متحدو ایالتونو ترمشرۍ لاندې ډله ایزو بریدونو او ورسره زیانونو د پلټنې په لومړنې پړاو کې دي کوم چې مناسب او له کړاوونو ځخه ډکه ده. چې دې موضوع د نړیوالې محکمې له لارې یې د عدلي تعقیب لپاره امکانات را پیدا کړل.[۹۳]

نړیواله جنايي محکمه په افغانستان کې کومه ونده لوبولای شي؟ نړیواله جنايي محکمه یوازې راتلونکې قضایي صلاحیت لري چې له هغې نیټې ځخه چې لوزنامه نافذه شوې پیلیږي.[۹۴] دا په دې مانا ده چې هغه جرمونه چې د ۱۳۸۲کال ځخه وړاندې، (هغه وخت چې افغانستان دغه محکمه یې تایید کړه)، تر سره شوي دي، د دې محکمې تر قضايي صلاحیت لاندې نه راځي. د ۱۳۸۸ کال د تلې په میاشت کې د نړیوالې محکمې په اړه جوړ شوی کنفرانس کې[۹۵] دا روښانه شوه چې په تېرو ۶ کلونو کې د نړیوالو ځواکونو د هوایي بمباریو، وسله والو بریدونو، د سړک د غاړې چاودنو او د ځانمرګو بریدونو له کبله ملکي وګړو ته درنې مرګ ژوبلې اووښتې دي.[۹۶] د انتقالي عدالت د نړیوال مرکز یو ځواب ویونکې په دې هکله شک لري او وایي په داسې حال کې چې د بشري حقونو ګڼ شمیر تیریو ته په دې توګه رسیدګي وشي نو آیا دوی به د نړیوالې جنايي محکمې له ښکیلتیا ځخه په پوره توګه ګټه پورته کړي.[۹۷] د نړیوالې جنايي محکمې پلټنې او بالقوه عدلي تعقیب به د روم د لوزنامې ځخه وړاندې د دوه نیمو لسیزو جګړو او تر سره شوو تیریو باندې به هرومرو سترګې پټې کړي. نو ځکه د تېر سره د چلند او د هغو قربانیانو چې عدالت غواړي د قانع کولو اغیزې د پوښتنې وړ دي. له ۱۳۸۲ کال ځخه وروسته پر تر سره شویو جرمونو ټینګار به د بشري حقونو ځخه د سرغړونو یو شمیر جدي عاملان به له پامه وغورځوي چې دا به یو ډیر خطرناک کار وي.

د نړیوالې جنايي محکمې له لارې پلټنه د بشري حقونو تېرو او حاضرو زیات شمیر سرغړونکو ته به د یو ګواښونکې عمل په ډول وي. مانې ځرګندوي چې د نړیوالې جنايي محکمې د مشر ځارنوال اشاره، چې غواړي یوه ځانګړي قضیه او یا هیواد وپلټي ځینې ختونه پر سرغړونکو یوه ویروونکې اغیزه د انتقالي عدالت دنړیوال مرکز یوه ځواب ویونکې وویل چې کیدای شي په افغانستان د نړیوالې جنايي محکمې ځیرنه هغو خلکو ته هم ګواښ دی، چې د محکمې په موقت قضایي صلاحیت نه پوهیږي- او دا به په افغاني فعالینو کې دا هیله پیدا کړي چې داسې هیوادونه او یا سازمانونه شته چې د حساب ورکونې ځخه ملاتړ کوي.[۹۸] د نړیوالې جنايي محکمې له لارې پلټنې کیدای شي د یو داسې چاپیریال په منځته راوړلو کې مرسته وکړي چې په هغه کې د معافیت ځخه دفاع کول سخت وي او د حساب ورکونې د بیا راژوندي کولو لپاره کورنۍ لیوالتیا وهڅول شي.[۹۹] خو دا هم باید په یاد وساتل شي چې په سوډان کې د نړیوالې جنايي محکمې له خوا د ولسمشرعمر بشیر تورنول د جګړې او یا په جګړې پورې تړلو سرغړونو پر دوام یې کومه اغیزه نه درلوده.

آیا د نړیوالې جنايي محکمې لپاره سیاسي اراده شته؟ تر اوسه د افغانستان حکومت له دغې محکمې ځخه غوښتنه نه ده کړې چې جنګي جرمونو په نښه کړي او داسې ښکاري چې په حکومت او عدلي سکټور کې عمومي رایه د نړیوالې جنايي محکمې ښکیلتیا نه غواړي. د روم د لوزنامې ۶۸ ماده له غړو هیوادونو ځخه غواړي چې د محکمې له قضایي صلاحیت سره سم د نړیوالو جرمونو په پلټنه او عدلي تعقیب کې د محکمې سره په بشپړ ډول همکاري وکړي.[۱۰۰] زیاتره غړي هیوادونه کله چې د دغې محکمې سره یو ځای شوي دي، په ځو میاشتو کې د نړیوالې محکمې سره د همکارۍ قانون یې تسوید کړی دی. د نړیوالې جنايي محکمې سره له یو ځای کیدو نږدې اووه کاله وروسته هم افغانستان د دغې محکمې سره د همکارۍ قانون نه دی تسوید کړی. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون د کمیشنر د وینا پر بنسټ،په حقیقت کې د عدلیې ورازت د دغه قانون مسوده چې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون له خوا جوړه شوې وه له پامه غورځولې.[۱۰۱] ښایي د حکومت د نه لیوالتیا تر ټوله روښانه نښه د نړیوالې جنايي محکمې د غړو هیوادونو په ناسته کې ددې هیواد تشه څوکۍ وي[۱۰۲]. لکه ځرنګه چې د افغانستان د ځار یوه استازې وویل، "په خواشینۍ سره دا هغه نښه ده چې ښیي افغانستان په کومه اندازه د خپلو نړیوالو مکلفیتونو تر سره کولو ته ژمن دی او هم په ملي او نړیواله کچه د معافیت په وړاندې مبارزه کې څومره برخه اخلي." [۱۰۳]

---

[۹۲] میندیز، نړیواله جنایی محکمه، ۴۳-۳۹، نړیواله جنایی محکمه په خپل قضایی صلاحیت کې دوه محدودیتونه لري. لومړي نه غواړي او هم د دې توان نلري چې بالقوه تورن کسان تر عدلی تعقیب لاندې ونیسی او دویم یوازی محتمل قضایی صلاحیت لري چې له هغې نیټې ځخه پیل کیږي چې په هغه هیواد کې اساسنامه نافذه شوې وي.

[۹۳] جیمز راینل،؛ نړیواله جنایی محکمه په افغانستان کې جنګې جرمونه ځیري.؛د ملګرو ملتونو مطبوعات، (نیویارک، وری ۱۹ کال ۱۳۸۸)

[۹۴] میندیز، نړیواله جنایی محکمه ۳۹.

[۹۵] دغه کنفرانس د نړیوالې جنایی محکمی د ایتلاف د استازو له خوا په کابل کې جوړ شو، د افغانستان ځار، د لړم ۲ کال ۱۳۸۸. د حکومت، نړیوالی ټولنی او مدنی ټولنو ځخه زیات شمیر ته د ګډون لپاره بلنه ورکړ شوې وو.

[۹۶] حسین معین او احمد ضیا محمدی، ؛ په افغانستان کې نړیوال جنایی محکمه؛ د نړیوال جنایی محکمی لاندې د افغانستان ژمنی د مشورتی غونډی پایله، (کابل د افغانستان ځار، د لړم ۲ کال ۱۳۸۸.

[۹۷] د لیکوال مصاحبه د انتقالی عدالت د نړیوال مرکز د استازی سره، د لړم ۲۶ کال ۱۳۸۸

[۹۸] د لیکوال مصاحبه د انتقالی عدالت د نړیوال مرکز د استازی سره، د لړم ۲۶ کال ۱۳۸۸.

[۹۹] د انتقالی عدالت نړیوال مرکز، ؛ د سولی ځخه مخکی عدالت؛: د سولی رامنځته کولو په قضیه کې د معافیت سره مبارزه.

[۱۰۰] مندیز، نړیوال جنایی محکمه، -۳۹ ۴۲

[۱۰۱] د نادر نادری وینا، د نړیوال جنایی محکمی لاندې د افغانستان د حکومت ژمنی. کابل د لړم ۲ کال ۱۳۸۸

[۱۰۲] د ۱۳۸۱ کال راهیسی د غړو هیوادونو شورا په کال کې یو ځل سره غونډه کوي.

[۱۰۳] نعمت الله ابراهیمی، په نړیوال جنایی محکمی کې د افغانستان خالی څوکۍ : د نړیوال جنایی محکمی د غړو هیوادونو د غونډی ځخه لنډ راپور.

کیدای شي د افغانستان د نړیوالو ملګرو په مینځ کې هم د نړیوالې جنایي محکمې د پلټنې لپاره لیوالتیا نه وي. اوس مهال ۴۳ هیوادونه په افغانستان کې پوځي حضور لري.[۱۰۴] نړیواله جنایي محکمه کولای شي د بهرنیو ځواکونو له خوا د تر سره شوو جرمونو عدلي تعقیب او پلټنه وکړي. په حقیقت کې د نړیوالې جنایي محکمې مشر څارنوال په ځانګړې ډول یادونه وکړه چې کیدای شي څیړنه د دواړو خواوو، طالبانو او نړیوالو ځواکونو، د غړو د ګرفتارۍ لامل شي.[۱۰۵] دا روښانه نه ده چې آیا نړیواله جنایي محکمه به په رښتیا سره پریکړه وکړي چې په افغانستان کې د پلټنې دنده په غاړه واخلې په داسې حال کې چې ښایي د سترو نړیوالو لوبغاړو له مخالفت سره به مخامخ شي. محکمه زیاتره د خپل د نوې ښکیلاک عدلي سیستم له امله تر نیوکو لاندې ده، چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا د پنځو دایمي غړو د ګټو سره سم یواځې پلټنې تر سره کوي.[۱۰۶] د دغې ادعا ارزښت به په ۱۳۸۲ کال کې د متحده ایالاتو او د افغانستان د حکومت تر منځ په لاسلیک شوې تړون کې وموندل شي. د روم د لوزنامې د ۹۸ مادې له احکامو څخه په ګټې اخیستلو سره، دغه ماده نړیوالې جنایي محکمه دهغو جرمونو له پلټنې څخه منع کوي چې د متحده ایالاتو تر سره شوې دي.[۱۰۷] هرهغه بهیرچې موخه یې انتقالي عدالت وي، باید داسې یو تصور رامینځ ته نه کړي چې یواځې افغانان باید د خپلو جرمونو ځواب ووایي.[۱۰۸] هغه بهیر چې د نړیوالو فعالینو او په ځانګړې توګه د سرتیرو د سترې برخې مرسته کوونکې هیواد د سرغړونو په اړه پر عیني شواهدو سترګې پټوي، کیداي شي د محکمې مشروعیت کمزورې کړي، (د نړیوال عدالت په غځولو سره) او کیدای شي د افغانانو تر مینځ دښمنۍ او کرکې راوپاروي.

افغان مدني ټولنه کولای شي چې د نړیوالې جنایي محکمې سره د همکارۍ لپاره پرحکومت د فشار اچولو او همدا راز محکمې سره د معلوماتو په راغونډولو کې د مرستې له لارې د دا ډول نړیوال عدالت له بهیر سره د ملاتړ په رامینځ ته کولو کې مهمه ونډه ولوبوي. د افغانستان څار نیت لري څو د نړیوالې جنایي محکمې د ائتلاف د یوه افغان غړې په توګه د خپلې نوې ونډې له لارې دا کار تر سره کړي.[۱۰۹] دوی د ۱۳۸۸ کال د تلې په میاشت کې د نړیوالې جنایي محکمې په هکله یو مشورتي کنفرانس جوړ کړ چې په هغه کې د افغان دولت ستر کارکوونکې، نړیوال ډیپلوماټان، کار پوهان، د افغان مدني ټولنې او پوهنتون غړې یې سره یو ځای راغونډ کړل. خو دا ډیره مهمه ده چې دا تمه ونه کړو چې محکمه څه کولای شي او یا څه به وکړي. نړیواله جنایي محکمه اوس مهال یواځې د جرمونو په اړه معلومات راټولوي او ښایي پریکړه وکړي چې پلټنې تر سره نه کړي. سر بیره پر دې، دا روښانه نه ده چې د طالبانو سره روانې خبرې او د ښنې د قانون تنفیذ به د معلوماتو د راغونډولو پر دغه بهیر به څه اغیزه ولري.

د حساب ورکونې یو بل موجود میکانیزم د دریم هیواد له لارې د نړیوال قضایي صلاحیت پلې کول دي. ځانګړې جرمونه، لکه د بشر پر ضد جرمونه او عامه وژنې، چې خورا درنې ګڼل کیږي یواځې په نړیواله توګه او د یو هیواد تر قضایي صلاحیت لاندې محاکمه کیدای شي.[۱۱۰] د ۱۳۸۴ کال د زمرې په میاشت کې سرور زرداد فریادي، د اسلامي ګوند پخوانی قومندان په انګلستان کې په ۲۰ کلونو بند محکوم شو چې پر ده وارد شوې تورونه د ۱۳۷۱ څخه تر ۱۳۷۵ کلونو کې په افغانستان کې د کړونې او یرغمل نیولو د کمپاین تر سره کول وو. دا په انګلستان کې په خپل ډول کې لومړنۍ محکمه وه چې د ملګرو ملتونو د شکنجې یا کړونې پر ضد د تړون یا کنوانسیون په رڼا کې تر سره شوه.[۱۱۱] د ۱۳۸۴ کال د تلې د میاشتی په ۲۲ نیټه د هالنډ حکومت دوه تنه افغان سیاسي پناه غوښتوونکو ته سزا واورله چې په ۱۳۵۸ کال په دوران کې یې په خفیه پولیسو کې لوړ منصبونه درلودل او شکنجې یې تر سره کړې وې.[۱۱۲] د هالنډ حکومت د هغو افغانانو چې په جنګي جرمونوتورن ګڼل کیږي پلټنې ته ادامه ورکوي.

د دغو محکمو اغیزه څه ده؟ که څه هم چې په دې اړوند کله کله معلومات ډیر کمزورې دي، په بهر کې د افغانانو عدلي تعقیب نورو پټو او یا په ځواک کې کسانو ته یو پیاوړی پیغام دی چې دوی په هیڅ ځای کې خوندي نه وي. سر بیره پر دې په انګلستان کې د جنګي جرمونو د تورنو کسانو د محاکمه کولو خبر په افغانستان کې دننه وستایل شو. دا د دې لامل هم شو چې ګڼ شمیر افغانان نورو ته ووایي (د هغو کسانو په ګډون چې اوس د هیواد په دننه کې دي) چې دوی به هم له ورته تورونو سره مخ شي.[۱۱۳] افغان مدني ټولنه ښایي وکولاي شي د دا ډول پیښو په خپرولو کې ونډه ولوبوي او افغان قربانیان هیله مند کړي چې ځینې هیوادونه شته چې غواړي د جګړې د وخت د بشري حقونو جدي سرغړونکو سره محاسبه وکړي. که څه هم چې ځینې مرکه کوونکې په دې آند دي چې د افغانستان د حکومت له خوا د نړیوال قضایي صلاحیت د محاکمو په اړه کوم رسمي غبرګون نه دی ښودل شوی، چې کیدای شي په راتلونکې کې دغه پیښې په باالقوه ډول مخالفتونه راوپاروي او د دغه ډول محکمو دوام به له ګواښ سره مخامخ کړي.

---

[۱۰۴] شمیری د ایساف د ویب پاڼی څخه: http://www.isaf.nato.int/en/troop-contributing-nations/index.php

[۱۰۵] رینل، نړیوال جنایی محکمه په افغانستان کې جنایی جرمونه څیړي.

[۱۰۶] رینل، نړیوال جنایی محکمه په افغانستان کې جنایی جرمونه څیړي.

[۱۰۷] دغه تړون د افغانستان حکومت منع کوي چې د امریکا کوم هستوګن که د افغانستان په سیمه کې کوم جرم تر سره کړي هغه د عدلی تعقیب لپاره نړیوال جنایی محکمی ته معرفی کړی.

[۱۰۸] نادری، نړیوال جنایی محکمه مشورتی غونډه.

[۱۰۹] د لیکوال مصاحبه د جلال بینش سره.

[۱۱۰] مانی، د معافیت ختمول او په افغانستان کې د عدالت رامنځته کول.

[۱۱۱] ساندرا لویل، د انګلستان محکمه افغانی جنګسالار محکوم کړ: ګاردین ۲۸ چنګاښ کال ۱۳۸۴ په دغه ویب پاڼه کې موجود دی. http://www.guardian.co.uk/2005/jul/19/Afghanistan

[۱۱۲] لیزبت زیکویلد، په افغانستان کې د هالنډ د شکنجی پیښی: د نړیوالو او داخلی وسله والو جګړو ترمنځ د ورانی اړیکی. د نړیوال جنایی عدالت ژورنال، ۴ ګڼه . ۴. (۱۳۸۵)

[۱۱۳] پاتریشا ګوسمن، ؛په افغانستان کې حقیقت موندنه، عدالت او ټیکاو؛انتقالی عدالت په ۲۱ پیړۍ کې، د حقیقت موندنی مخکی عدالت.(د کامبریج د پوهنتون مطبعه ۱۳۸۵)-۲۲ ۳

که چيرې ټولني له خپلو تيرو سره په اغيزمنه توګه مقابله وکړي نو نړيوالي ټولني ته به لازمه نه وي چي په دې مسألو کې ښکيل شي نو په دې توګه به نړيواله جنايي محکمه او د نړيوال قضايي صلاحيت محکمي به لږ او يا هم هيڅ دنده و نه لري. په داسي حال کې چې داسي ښکاري چې د افغانستان حکومت په مخ په زياتيدونکي توګه د معافيت د په نښه کولو لپاره هڅه نه کوي، نو نړيوال ميکانيزم يوائيني لاره ده چې کولای شي د جنګي جرمونو لپاره حساب ورکونه تعقيب کړي. آن که چيرې افغان مدني ټولنه په دې وتوانيږي چې د افغانستان د خلکو په مينځ کې د نړيوال عدالت د ميکانيزم په اړه پوهاوی لوړ کړي او په دې هکله پوهه رامنځته کړي، خو دا روښانه نه ده چې د نړيوالو په لارښوونه ستر عدلي تعقيبونه به د افغانستان د خلکو له نظره مشروعيت ولري؟ په داسي حال کې چې په لندن کې د زرداد فريادی عدلي تعقيب د افغانانو له خوا وستايل شو، دغه محکمه يو بی ساری فرصت ؤ. "د عدالت لپاره د يوې بلني" موندنو وښودله که چيرې عدلي تعقيب تر سره شي، نو بايد په افغانستان کې او د افغانانو په مشرۍ دې تر سره شي، تر څو د هيواد زياترو وګړو ته د منلو وړ وي.[۱۱۴] آن که چيرې نړيواله جنايي محکمه وغواړي چې په افغانستان کې دننه فعاليت وکړي، آيا هغه محکمې چې د ددې پر ځای چې په هيود کې د ننه تر سره شوې وای د نړيوالو تر مشرۍ لاندې په بهر کې تر سره شوې، د افغانستان د خلکو له نظره به کوم مشروعيت ولري او که نه؟

## ۲,۴ د تېر سره مقابله: ډله ايز قبرونه او مستندول

> "کله چې تاسې يو ډله ايز قبر پرانيزئ، تاسې د يو داسې چاپيريال په پرانيستلو پيل کوئ چې په هغه کې بايد ربښتيا ويل شي."
>
> د يوناما د بشرى حقونو کارکوونکی

د ډله ايزو قبرونو د تشخيص او ساتني بهير او د جنګي جرمونو او د بشري حقونو څخه د سرغړونو مستندول د هغو پاليسيو يوه برخه ده چې موخه يې د تېر سره مقابله ده. د تېرو جرمونو په سم ډول ثبتول، فعالينو او چارواکو ته به دا شرمونکې او ستونزمنه وي چې له هغوی څخه انکار وکړي، د واک څخه د سرغړونکو د ليرې کولو لپاره فشار واچوي، او د راتلونکو سرغړونو څخه د مخنيوي لپاره پوهاوی لوړ کړي[۱۱۵].

کله چې يو ډله ايز قبر موندل کيږي دا د حکومت او هر بل کس لپاره ستونزمنه ده چې له تر سره شوي جرمونو څخه انکار او يا پر هغو سترګې پټې کړي. لکه څرنګه چې د يوناما د بشري حقونو د څانګې يوه تن کارکوونکي وويل، "کله چې تاسې يو ډله ايز قبر پرانيزئ، تاسې داسې د يوې داسې فضا په پرانيستلو پيل کوئ چې په هغه کې بايد ربښتيا ويل شي." نوموړي کارکوونکې څرګنده کړه چې څرنګه ډله ايز قبرونه د ربښتيا ويلو، د لادرکه شويو کسانو د يو ليست له جوړولو او کله کله د عدلي تعقيب سره اړيکه لري. د ډله ايزو قبرونو پلټنه د بيا پخلاينې له بهير سره مرسته کولای شي. دا معلومه شوه چې په بوسنيا کې د عزيزانو د برخليک نه څرګندوالی، د بيا پخلاينې په لار کې يو ستر خنډ بلل کيږي.[۱۱۶]

ډله ايز قبرونه د جرم صحنه او لادرکي يو پرله پسې جرم دی. د انتقالي عدالت د نړيوال مرکز يو استازی داسې استدلال کوي چې دا دولت ته دغه مسوليت ور کوي چې په دې هکله پلټنه وکړي.[۱۱۷] که څه هم چې يوه نړيوال کارپوه په ډاګه کړه چې په افغانستان کې د ډله ايزو قبرونو په اړوند حکومت نه خو کومه رسمي پاليسي لري او نه هم د حکومت قانون له دغو قبرونو څخه ساتنه کوي. همدې کارپوه زياته کړه،په عمل کې د نړيوالو نورمونو سره سم دعدلي طبي پلټنو لپاره اوس مهال ځايي وړتيا نه شته. په دې توګه وړاندې تر دې چې د تير سره د مقابلې سره د مرستې لپاره د ډله ايزو قبرونو په هکله هيله پيدا شي لازمه ده چې پر سترو خنډونو بر لاسي وموندل شي.

د بشري حقونو ډاکټران، يوناما او د بشري حقونو لپاره د عالي کميشنر دفتر، چې تر ۱۳۸۸ کاله پورې د بشري حقونو له ډاکټرانو سره يې مالي مرستې کولې، دغه بهير يې مخ په وړاندې خوځولو.[۱۱۸] د بشري حقونو ډاکټران هڅه کوي چې افغان مدني ټولنه او افغان حکومت په افغانستان کې د عدلي طب د وړتياوو د تشخيص او لوړولو په برخه کې کار وکړي.[۱۱۹] د بشري حقونو ډاکټران د کورنيو چارو وزارت د کارکوونکو ، د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون د غړو او د مدني ټولني نورو فعالينو په ګډون افغانانو ته روزنه ورکوي چې ډله ايز قبرونه مستند او ثبت کړي، او هڅه کوي څو قبرونه وپلټي او ساتنه يې وکړي او چيرې چې شوني وي غير مسلکي کيندني او د تير د مستندولو د شواهدو رنګول ودروي. يوه نړيوال کارپوه څرګنده کړه چې يو ډله ايز قبر چې فکر کيده چې د کمونيست حکومت د ۳۰۰ تنه قربانيانو مړي به په کې ښخ وي په بدخشان کې وموندل شو. د تجربی د نشتوالي له امله، دغه قبر د ځايي خلکو له خوا په ناسمه توګه وکيندل شو چې د عدلي طب شنني يې ناشوني کړې. د يو ډله ايز قبر په سمه توګه ساتنه ډيره مهمه ده، لکه څرنګه چې نوموړي کار پوه زياته کړه، "موږ ته اړينه ده چې شواهد خوندي کړو، د هغوی له ويجاړيدو څخه مخنيوی وکړو چې دا کار به وروسته ښايي له موږ سره د حقيقت په موندلو کې مرسته وکړي". په يوه هيواد کې چيرې چې د باوري حقيقت موندنې لپاره ډيره لږه هڅه شوې، په ملي کچه

---

[۱۱۴] د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کميسيون؛ د عدالت لپاره غږ؛

[۱۱۵] د مدنی ټولنو اخری راپور، ؛ د انتقالی عدالت او مستند کولو ورکشاپ؛

[۱۱۶] ايسابل ويسلنګ او ارنلد والورين، را ميموری، پريجيدور، د قومی پاکولو لابراتوار، لندن ساقی کتاب پلورنځی ۱۳۸۵، ۱۰۸

[۱۱۷] د ليکوال مصاحبه د انتقالی عدالت د نړيوال مرکز د استازی سره، د ليندی ۲ کال ۱۳۸۷

[۱۱۸] د همکاری د هغه تفاهم ليک پر بنسټ منځته راغی چې د يونام، د بشری حقونو د ډاکټرانو او کورنيو چارو وزارت تر منځ په کال ۱۳۸۶کې لاسليک شو،

[۱۱۹] د ليکوال مصاحبه د نړيوال کار پوه سره. تر ۱۳۸۷ پوری يوناما او د افغانستان د بشری حقونو کميسيون د بشری حقونو د ډاکټرانو حضور يې په افغانستان کې تمويل کړي. په دغه کال کې د دغه موسسی مالی وړانديز د متحده ايالاتو د بهرنيو چارو وزارت له خوا ومنل شو او وروسته له ۱۳۸۸ کال څخه يوناما او د افغانستان د بشری حقونو خپلواک کميسيون له خوا نه تمويل کيږي.

ښکېلو کسانو ته د داسې پوړو وسایلو برابرول چې له هغې لارې وکولای شي د عدلي طب وړتیاوو ته پراختیا ورکړي او په افغانستان کې د بشري حقونو سرغړونې په نښه کړي، د انتقالي عدالت بنسټیزه برخه جوړوي.

په افغانستان کې د ډله ایزو قبرونو د پلټنو په لار کېستره ننګونه هغه چاپیریال دی چې په هغه کې په جنګي جرمونو ګڼ شمیر شکمنو کسانو حکومتي جوړښتونه یې تر خپلې ولکې لاندې نیولي دي. د بېلګې په توګه د لیلي دښتې په یوه ډله ایز قبر کې د ۲۰۰۰ څخه زیاتو بندي طالبانو (افغان او پاکستاني) او همدارنګه ښایې ځینې د القاعده جنګیالي، ښخ شوي دي، چې په ۱۳۸۰ کال کې د کندز ولایت له نیول کېدو څخه وروسته د متحده ایالاتو ځانګړو ځواکونو او شمالي ټلوالې ته تسلیم شوي وو.[۱۲۰] د بشري حقونو د ډاکټرانو څېړونکو ( په یوه ماموریت کې چې د یوناما او د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر له خوا تنظیم، او مالي ملاتړ یې شوی ؤ) د ۱۳۸۰ کال د مرغومي په میاشت کې یې دغه ډله ایز قبر وموند او د ۱۳۸۱ کال د غویي په میاشت کې یې هغه وڅېړلو. له هغه وروسته د بشري حقونو د ډاکټرانو کار پوهانو یو بل ۱۵ کسیز ډله ایز قبر وموند، د دغو مړو پر دریو تنو باندې طبي څېړنې وکړې او په ډاګه شوه چې د هغوی مړینه انسان وژنه وه.[۱۳۱]

که څه هم چې بشپړه موندنې هیڅکله هم تر سره نشوې. د جنګي جرمونو لپاره د متحده ایالاتو پخواني سفیر، پایر پروسپر، څرګنده کړه چې په څه ډول د افغان او امریکایي چارواکو د ټینګار له امله د دوی دفتر خپلې څېړنې یې کمې کړې. د بوش اداره په څرګند ډول یې په دې هکله اندېښنه درلوده چې پلټنه به د کرزي حکومت ته به زیان ورسوي.[۱۲۲] دغه ډار هم وو چې ښایي دغه پلټنه به د لیلي په دښته کې د متحده ایالاتو ګډون هم را برسیره کړي. په ۱۳۸۰ کال کې ستر شکمن جنرال عبدالرشید دوستم د سی آی ای د معاش اخیستونکو په لیست کې شامل وو او د هغه ملیشه ډلې د متحده ایالاتو له ځانګړو ځواکونو سره یو ځای په فعالیت بوخت وو. داسې شواهد څرګندوي چې د عامه وژنې پر مهال امریکایي پوځیان هم په صحنه کې موجود وو.[۱۲۳] وروسته په داسې حال کې چې د امریکې د نړیوالو اړیکو مسووله ځانګه (The State Department) په خپل د ۱۳۸۱ کال د بشري حقونو په کلنې رپوټ کې د دې پېښې یادونه وکړه، خو بل هیڅ عمل یې تر سره نه کړ. په ۱۳۸۷ کال کې د بشري حقونو ډاکټرانو ځینې کیندنې وموندلې چې ددې څرګندونه یې کوله چې د لیلي د دښتې په ډله ایز قبر کې لاس وهنه شوې او د شواهدو د له مینځه وړلو په هلکه یې اندیښنې څرګندولې.[۱۲۴]

په داسې حال کې چې د واکمنو کسانو له خوا د ډله ایزو قبرونو د پلټنې د فعالینو په وړاندې خندونه رامینځ ته شوي دوی به څرنګه پلټنې تر سره کړي؟ د بشري حقونو د ډاکټرانو محاسبه شوې تګلاره د هیلې یوه بله سرچینه بلل کیږي. د مدني ټولنې د فعالینو تر څنګ د کورنیو د چارو د وزارت د کارکوونکو روزنه په دغه ډګر کې لومړنی ګام دی چې د ډله ایزو قبرونو د پلټنې په موخه په ټولو برخو کې د خبرو اترو، پوهې او ملاتړ لپاره د دواړو هڅې سره یوځای کوي. د عدلي طب د کار طبیعت داسې دی چې په پرلپسې ډول پر ځانګړو ډله ایزو قبرونو متمرکز وي، په همدې ډول په افغانستان کې د ددې لپاره وړتیا په دې مانا ده چې هرومرو به ځینې ډله ایز قبرونه نه کشف شوي او نه سپړل شوي پاتې وي.[۱۲۵] د انتقالي عدالت د نړیوال مرکز یوه استازې استدلال وکړ د هغو تمو له کبله چې د بهیر د کار په اړه دي باید دا په خورا احتیاط سره تر سره شي. اوس مهال د خلکو د تمو او د ډله ایزو قبرونو د موندنې په اړه د دوی د غوښتنو په هکله ډېره لږه پوهه شته.[۱۲۶] یو محاسبه شوی بحث چې د ټولنې بېلا بېلې برخې په کې ګډون ولري د دغو هیلو په تر سره کولو کې به مرسته وکړي او د ډله ایزو قبرونو د پالیسۍ د موخو په اړه به پوهه رامنځته کړي. په دې توګه د بشري حقونو ډاکټران د ډله ایزو قبرونو په اړه د مدني ټولنې، څارنوالانو، قاضیانو، ملا امامانو او پوهانو سره تر منځ یو بحث هڅوي.[۱۲۷] د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې "د جګړې د میراثونو" په هکله روانه څېړنه به د ډله ایزو قبرونو د موندنو په اړه د افغانانو غوښتنې او تمې راوسپړي، او هیله کیږي چې د دغې موضوع په اړه بحث سره مرسته وکړي.

په داسې حال کې چې په افغانستان کې به د عدلي طب شواهد به په یو څو پېښو پورې محدود وي، خو مستندول به په پراخه توګه د شاهدانو د شهادتونو د راټولو څخه جوړ وي. په پای کې د مستندولو موخه دا ده چې پاتې شوي کسان په دې وتوانیږي خپل کیسې ووایي او له نورو سره یې شریکې کړي، او په دې هکله چې د جګړې په بهیر کې څه پېښ شوي یو څرګند انځور را مینځ ته کړي. داسې یو انځور جوړ کړي چې وښیې په تېرو جګړو کې څه

[۱۲۰] د راپورونو پر بنسټ د جنرال دوستم، چې د دفاع وزارت پخوانی کارکوونکی وو او اوس مهال د کرزی په حکومت کې د مسلح ځواکونو په قومندانی کې د ریس ارکان منصب لری، مشری لاندې ځواکونه په کانتیرونو کې بندیان خفه کړي کله چې دوی یې د کندز څخه شبرغان ته بیول او وروسته هلته دوی خښ شول. وګورئ د بشری حقونو ډاکټران، ؛ د بشری حقونو ډاکتران په افغانستان کې د ډله ییزو قبرونو د ایستلو لپاره د تحقیق غږ کوي.؛ او په دغه ویب پاڼه کې تر لاسه کولای شئ:-http://physiciansforhumanrights.org/library/news-2008-12-12.html

[۱۲۱] د بشری حقونو ډاکټران، ؛ د بشری حقونو ډاکټران په افغانستان کې د ډله ییزو قبرونو د ایستلو لپاره د تحقیق غږ کوي.؛

[۱۲۲] رابین انتقالی عدالت او بشری حقونه په افغانستان کې، ۵-۵۷۴

[۱۲۳] رابین انتقالی عدالت او بشری حقونه په افغانستان کې، ۵-۵۷۴

[۱۲۴] د بشری حقونو ډاکټران، ؛ د بشری حقونو ډاکټران په افغانستان کې د ډله ییزو قبرونو د ایستلو لپاره د تحقیق غږ کوي.؛

[۱۲۵] د نړیوال بحران ډله ، د افغانستان عدلی سمون او انتقالی عدالت،؛۱۳۸۳، ۱۸

[۱۲۶] د لیکوال مصاحبه، د انتقالی عدالت نړیوال مرکزد لیندي ۲۱ کال ۱۳۸۷

[۱۲۷] د لیکوال مصاحبه، نړیوال کار پوه، د لیندي ۱۷ کال ۱۳۸۷.

پېښ شوي. د مستندولو يو منطقي بهير د فعالينو او چارواکو لپاره له تير څخه انکار کول شرمناکه او ستونزمنه کوي.[۱۲۸] سر بېره پر دې، لکه څرنګه چې وارډين او سټيل استدلال کوي، کله چې کيسې ونه ويل شي او تېرې سرغړونې تاييد نه شي، نو کيداى شي چې اجازه ورکوونکې چاپېريال را مينځ ته شي او د اوسنيو مشرانو له خوا د نوروسرغړونو تر سره کيدل به وهڅوي.[۱۲۹]

د مستندولو لپاره يو ډېر ښه انتخاب د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون دى چې د بشري حقونو د سرغړونو د پلټنې او مستندولو دنده لري.[۱۳۰] په ۱۳۸۳ کال کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د هيواد په کچه يو مشورتي بحث تر سره کړ او په کال ۱۳۸۴ کې "د عدالت لپاره د يوې بلنې" تر سر ليک لاندې يې د هغه بحث رپوټ خپور کړ. د هغوى د مستندولو تر ټولو وروستى پروژې له ۱۳۵۷ کال څخه بيا تر ۱۳۸۰ کال پورې د افغانستان په هر ولايت کې د بشري حقونو سرغړونې يې ترسيم کړي. په دې توګه په ټول هيواد کې د عامو قربانيانو د تجربو پر پراخولو او ددې جرمونو د ترسره کولو د مقصد په هکله چې پرې سترګې نه شي پټيدلاى او نه ښنل کيږي ټينګارکيږي دغه څېړنه دا ورتيا لري چې يو ښتينې بدلون رامنځ ته کړي. پر جګړې يو لنډه کتنه څارنوالانو ته دا اجازه ورکوي چې پلټنه تر سره کړي او له پلټنې څخه وراندې نقشه جوړونه يوه عامه وسيله ګڼل کيږي. په داسې حال کې چې د انتقالي عدالت د نړيوال مرکز يو استازى ټينګار کوي چې دا يواځې يو لومړنى ګام دى او اړينه ده چې په دې هکله چې د نقشه اخيستنې پروژه څه کولاى شي او څرنګه دا وړاندې کيدلاى شي تمې په ښتينې بڼه وساتل شي.[۱۳۱] په افغانستان کې د مستندولو يو لړ نورې د پام وړ پروژې هم په لاره اچول شوي دي. په ۱۳۸۳ کال کې د بشري حقونو د عالي کميشنر دفتر د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون د سلا مشورو په مرسته يې په افغانستان کې له ۱۳۵۷ څخه تر ۱۳۸۱ کاله پورې د بشري حقونو د سترو سرغړونو او جنګي جرمونو په اړه معلومات، د ملګرو ملتونو د موجودو اسنادو او له هيواد څخه بهر د نورو اسنادو پر بنسټ، راغونډ کړل. داسې انګيرل کيده چې راپورونه به په يوه وخت خپاره شي، ځکه چې د امنيتي دليلونو له امله د ملګرو ملتونو رپوټ هغه څه يې کولاى شول چې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون يې نه شي کولاى: ځانګړې پيښې څرګندې کړې، او د جرمونو تر سره کوونکي تشخيص کړي.[۱۳۲] خو د دغې مسالې په اړه د ملګرو ملتونو رپوټ هيڅ کله هم خپور نه شو.[۱۳۳]

د افغانستان عدلي پروژه په افغانستان کې د تېرو جنګي جرمونو په اړه ډېر زيات اسناد له ځانه سره لري. په ۱۳۸۴ کال کې دغې پروژې (د سيورو خپرول: جنګي جرمونه او د بشر پر ضد جرمونه: د ۱۳۵۷ -۱۳۸۱) تر سر ليک لاندې يو رپوټ خپور کړ.[۱۳۴] رپوټ يو شمېر مهمې پيښې يې مستندې کړې چې دجرم د سټروالې او يا په جرمونو کې د ښکيلو کسانو د واک پر ګډې د پاتې کيدو له کبله خورا مهمې دي. د بشري حقونو د څار سازمان هم يو لړ نور مستندول يې تر سره کړي دي. پر وينو ککړ لاسونو تر سرليک لاندې د رپوټ ۱۳۳ مخونه د دوو کلونو پرلپسې مطالعې او له ۱۵۰ څخه زياتو عيني شاهدانو، پاتې شوو کسانو او حکومتي چارواکو سره د مرکو پايله ده.[۱۳۵]

زيات شمېر نورو سازمانونو هم د شواهدو د خوندي کولو، او په مبتکرانه توګه د جګړې په اړه د يادونو د ثبتولو په اړه يې کارونه کړي دي. د يوالې او عدالت لپاره بنسټ (FSFJ) هم د ځينو قربانيانو کيسې[۱۳۶] ثبت کړې او د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو وجهى صندوقه هم د ټول افغانستان څخه د ښځو له خولو ويل شوې شواهد يې راټول کړي دي.[۱۳۷] د کليد موسسې[۱۳۸] هم د پرانيستې ټولنې د انستيتيوت په مالي مرسته د "جنګي جرمونو" تر سرليک لاندې يې يو کتاب خپور کړئ چې د قومندانانو، جنګ سالارانو او بهرنيو ځواکونو له خوا د تر سره شوو جنګي جرمونو په هکله له ۲۵ رپوټونو څخه جوړ شوى دى.[۱۳۹] دغه فعاليتونه نه يواځې په افغانستان کې د تر شوو سرغړونو په مستندولو کې ورزيات شوي، بلکې د قربانيانو په راضي ساتلو کې هم مرسته کوي.

---

[۱۲۸] د ليکوال د مصاحبو پر بنسټ ليدنى د بوسنيا هرزګوينا څخه، د ماسترى سند. آيا نړيوال کولاى شى جنايتکاران محاکمه کړي او د نوي جګړې وروسته د پخلاينى لپاره لاره خلاصه کړي. په بوسنيا هرزګوينا کې د تېر د اصطلاح ته نږدى کيدل.

[۱۲۹] وردين او ستيل ؛ د کيسو بيانول: د کمبوديا د تجربى څخه افغانستان ته درسونه.؛ د متحده ايالاتو د سولى انستيتيوت د سولى په اړه لنډى خبرى، ليندي ۱۳۸۷په دغه ويب پاڼه کې تر لاسه کولاى شى.

[۱۳۰] د بشرى حقونو ډاکټران، ؛ د بشرى حقونو ډاکټران په افغانستان کې د ډله ييزو قبرونو د ايستلو لپاره د تحقيق غږ کوي.؛

[۱۳۱] د ليکوال مصاحبه، د انتقالى عدالت نړيوال مرکز استازى، د لړم ۴ کال ۱۳۸۷

[۱۳۲] ګوسمن، حقيقت موندنه، عدالت او ټيکاو په افغانستان کې. ۲۰

[۱۳۳] ګوسمن،؛په افغانستان کې حقيقت موندنه، عدالت او ټيکاو؛دغه راپور ځکه چاپ نشو چې د دې ډار وو چې د ملګرو ملتونو ځينى کارکوونکې په هغه ګډون ولري او هغه خبرى اترى سره کړکيچن کړي چې د زيات شمير ځواکمنو مليشه (د لسمى لوا په ګډون چې سياف ته وفاداره وو) وو د ټولنو سره د بيا يو ځايکولو پروسه کې پلان شوي وو. دوي استدلال وکړ چې ، د يو شرمونکو عمل په ډول، راپور داسى هيلى راپورته کړ چې نه ملګري ملتونه او نه هم حکومت کولاى شواى هغه تر سره کړي، په ځانګړى ډول، دوي د هغه کسانو په هکله هيڅ هم نشواى کولاى چې په راپور کې د هغوي نومونه راغلى وو.

[۱۳۴] د افغانستان عدلى پروژه ډاروونکي سيورى: بشرى ضد او جنګي جرمونه: ۱۳۵۷ تر ۱۳۸۱ پورى (کابل افغانستان د عدلى پروژه کال ۱۳۸۵)

[۱۳۵] د بشرى حقونو د څار موسسه ؛ په وينو ککړ لاسونه، په کابل او افغانستان کې تېر ناخوالى او د معافيت مشروعيت.

[۱۳۶] د ليکوال مصاحبه د عدلى پيوستون لپاره د موسسى استازى د ليندى ۲۹ کال ۱۳۸۷

[۱۳۷] د يونيفيم استازى شخصى تبصره

[۱۳۸] د کليد ګروپ يو غير انتفاعى ډله ده چې د بشرى خدمتونو د پراختيا په ډګر کې کار کوي. د کليد ګروپ يوه افغانى رسنى موسسه ده چې ټول ۳۴ ولايتونه تر خپل پوښښ لاند کليد ګروپ يوه افغانى رسنى موسسه ده چې ټول ۳۴ ولايتونه تر خپل پوښښ لاندى لري او د هغوي خپرونى په ګاونډى ايران او پاکستان کې هم ويشل کيږى.

[۱۳۹] د کليد ګروپ استازى شخصى تبصره، د جدى ۲۴ کال ۱۳۸۸، دا په پښتو او دري ژباړل شوى د چاپ ته آماده دى.

که څه هم چې په افغانستان کې سیستماتیک مستندول کوم تیر تاریخ نه لري او لا تر اوسه د مستندولو د غه هڅې په پراخه توګه همغږې نه لري. وارډن اوستیل استدلال کوي چې په افغانستان کې د جنګي جرمونو مرتکبین هڅه کوي چې دغه تشه د خپل تیر خود پرستانه لر لید سره ډکه کړي.[۱۴۰] د یاد وړ سند د بښنې پریکړه لیک دی، چې په یو ډول یې په ډګر کې د مجاهدینو د جنګیالیو سرغړونې چې یوه سبیځلې جګړه یې ګڼلې وه تاییدوي[۱۴۱] نورکسان، د افغانستان د حکومت د لوړو پوړو چارواکو په ګډون، د زیاتو شواهدو د شتون پر خلاف، د تېرو جنګي جرمونو له مسولیت څخه انکار کوي.[۱۴۲] سر بیره پر دې دافغانستان جګړه په حقیقت کې څو جګړې دي، هرې جګړې څو پړاونه او فعالین درلودل چې د یوې هر اړخیزې کیسې لیکنه ستونزمنه کوي.[۱۴۳]

نړیوال متخصصین کولای شي د مستند ولو په برخه کې داخلي وړتیا لوړه کړي څو په دې توګه وکولای شي انفرادي مستندول همغږې او د هغوی اغیزمنتیا پیاوړې کړي. د سولې لپاره د متحده ایالاتو انستیتیوټ د یو امریکایي پوهنتون سره یو ځای د مستندولو د معلوماتو د زیرمې (ډیټابیس) کارې چوکاټ جوړوي څو په دې توګه د تېرو جرمونو په اړه معلومات راټول او موخه یې دا ده چې په افغانستان کې د جنګي جرمونو د مستند ولو مرکز رامینځ ته کړي.[۱۴۴] د دغې پروژې یوه کارکوونکې وویل چې دغه کار به ټول خپاره شوې رپوټونه او نه خپاره شوې مواد لکه د افغانستان د عدلي پروژې ډیټابیس سره یوځای او دا به ډاډمنه کړي چې د ټولو اړوندو پړاوونو جنګي جرمونه تر پوښښ لاندې ونیسي. څرنګه چې دغه مرکز له افغانستان څخه بهر دی نو د حساسو موادو د زیرمې لپاره یو ډاډمن ځای دی. د متحده ایالاتو د سولې انستیتیوټ له بیلابیلو نادولتي سازمانونو سره اړیکه نیسي څو دوی وهڅوي چې له دغه ډیټابیس څخه د هغو خصوصي او کود لرونکو موادو د ساتلو لپاره کار واخلي چې دوی یې غواړي او هم هغه مواد چې دوی یې غواړي شریک یې کړي. کیدای شي دغه مواد د حکومت د هر ډول ارزونې بهیر لپاره ډیر لازمي وي. دا هم د یادولو وړ ده چې له دغه ډول ډیټابیس څخه د بوسنیا په جګړه کې په جنګي جرمونو د تورنو کسانو د محکمې لپاره د رپوټونو او شواهدو د تر لاسه کولو لپاره ګټه اخیستل شوې وه.[۱۴۵]

یوه بله ننګونه دا ده چې تر هغه وخته چې تورن کسان په ځواک کې پاتې وي، ښایي شاهدان د شهادت ورکولو لپاره لیواله نه وي، کیدای شي د شاهد شهادت هم د باور وړ نه وي. د تجربې د نشتوالي له امله، هغه کسان چې اسناد راغونډوي ښایي په دې ونه توانیږي چې د عیني شواهدو او انګازو تر مینځ توپیر وکړي. چې دا کار په دغه برخه کې د یادو شوو بهیرونو پر لور د حقیقت موندنې او پخلاینې کره توب، اعتماد او مرسته پیچلې کوي. چې یو وار بیا هم نړیوال ملاتړ خورا مهم دی. د ۱۳۸۷ کال د تلې په میاشت کې د متحده ایالاتو د سولې انستیتیوټ د کمبودیا د مستندولو د مرکز (DC-Cam) او د پرانیستې ټولنې انستیتیوټ په ګډه یو پنځه ورځنۍ روزنیز ورکشاپ جوړ کړ چې په هغه کې یې د افغانستان مهم نادولتي سازمانونه او د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه کار پوهان سره راغونډ کړل څو د کمبودیا د تېرو جرمونو د مستندولو هڅې وګوري، د مستندولو د بهیر څخه ښه پوهه تر لاسه کړي او هغه ورته موډلونه او فعالیتونه عملي او تر بحث لاندې ونیسي چې ښایي په افغانستان کې هم وکارول شي.[۱۴۶]

## ۳,۴ د تېر جبران

نړیوال قانون[۱۴۷] تاییدوي چې یوه جبرانوونکې کړنلار د ټولنیز ډله ایز مسوولیت د تاییدولو لپاره یوه مهمه لاره ده چې د قربانیانو پور دی. جبران کولای شي د زیانونو د جبران لپاره بیلا بیلې لارې چارې وکاروي څو فکر، جسمي د ملکیت ، مالي تاوانونه بیا ورکړي، زده کړه، یادونې، د قانون بیا رغونه، معذرت غوښتنه، ان د ښخولو لپاره د یوه عزیز د مړي بیرته ورکول تضمین کړي. [۱۴۸] په داسې حال کې چې دا شونې نه ده چې قرباني شخص ته رسول شوی زیان په بشپړ ډول جبران شي، او یا هر قربانی ته د رسیدلي زیانونو څخه د را پیدا شوو کړاوونو کچه و ارزول شي، خو د جبران پروګرام کولای شي د ځینو ستونزو د حل لامل شي چې د زیانونو څخه مینځ ته راغلي. د سیرالیون د حقیقت موندنې او بیا پخلاینې کمیسیون په خپل وروستي راپور کې څرګنده کړه چې جبران د ملي باور د رامنځ ته کولو او د بیاپخلاینې د هڅولو لپاره لومړني اسباب دي.[۱۴۹]

په افغانستان کې د تېرو او اوسنیو جنګي جرمونو جبران په ناسمه توګه ټاکل شوی او پلي شوی او د جبران د یو هر اړخیز پروګرام د رامینځ ته کیدو لامل نه دی شوی. د ساري په ډول، د افغانستان حکومت، ایتلافي ځواکونه او د ناټو مرستندوی هیوادونه د ړنګ شوو جایدادونو او ملکي وژنو په اړه د

---

[۱۴۰] وردین او ستیل ؛ د کیسو بیانول: د کمبودیا د تجربې څخه افغانستان ته درسونه؛

[۱۴۱] د عمومي عفوې د قانون په سریزه کې ویل شوي چې کومه جګړه کې چې د دښمنیو سبب شو، جهاد او مقاومت او د افغانستان د خلکو برحقه جګړه وو چې د دین څخه دفاع کول، د هیواد په تاریخ کې یوه ستره لاسته راوړنه وو او زموږ د ملي افتخاراتو کې راځي.

[۱۴۲] دوستم مخکې ویلي وو چې په دشت لیلي کې د طالب بندیانو وژنه او ښخول غیر عمدي وو د ۲۰۰ کسانو د وژلو ادعا وکړه چې اکثراً د ناروغیو او ټپونو له مړ شویدي.

[۱۴۳] د نړیوال بحران ډله ، د افغانستان عدلي سمون او انتقالي عدالت،؛۱۳۸۳، ۱۸

[۱۴۴] د لیکوال مصاحبه، د متحده ایالاتو د سولې انستیتیوټ، د لینډۍ ۱۳ کال ۱۳۸۷

[۱۴۵] د مدنی ټولنی اخری راپور، د انتقالی عدالت او مستند کولو ورکشاپ د حوت ۲۷ تر ۲۹ کال ۱۳۸۷

[۱۴۶] وردین او ستیل ؛ د کیسو بیانول: د کمبودیا د تجربې څخه افغانستان ته درسونه؛

[۱۴۷] د جبران په بڼه د تاوان حق، غرامت، بیا احیاکول، قناعت او د نه تکرار لپاره ضمانت، بنسټیز اصولونه او د نړیوال قوانینو د جدي سرغړونو او د نړیوال بشري قانون څخه د تیریو د قربانیانو د تاوان لپاره رهنمود،چې د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې په۶۰/۱۴۷ نیټه د جدی ۷ کال ۱۳۸۳ پریکړه کې ځای شوي وو.

[۱۴۸] ورت تایتل، انتقالی عدالت، (اکسفورد نیویارک، د اکسفورد د پوهنتون مطبعه ۱۳۸۰) ۱۳۷.

[۱۴۹] محمد سوما او کرستین کوریا، ؛په سیرالیون کې د تاوان او د هغه د پلي کولو په اړوند راپور،؛(د انتقالی عدالت نړیوال مرکز ۱۳۸۸)

جبران بيلا بيلې طرحې لري. دا د دې لامل شو څو په دې وروستيو کې د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د ستري محکمې څخه د بسيا جبران په اړه د نظر غوښتنه وکړي. د انتقالي عدالت نړيوال مرکز څرګنده کړه چې د افغانستان حکومت بايد پر دې ټينګار وکړي چې نړيوال ځواکونه د ستري محکمې احکام رعايت کړي.[150] د مالي جبران لپاره يوه بله پاليسي، د کار، ټولنيزو چارو، شهيدانو او معلولينو د وزارت له خوا د شهيدانو د پاتو کسانو او معيوبينو لپاره د تقاعد حقوق دي.[151] د معلولينو او پاتې شويو کسانو د منلو شرط دا دی چې د دوی معيوبيت په جګړه پورې اړوند وي. سر بيره پر دې داسې پياوړي ميکانيزمونه نه شته چې د جګړې اړوند مرګ ژوبلې پيښې ثابتې کړي، چې دا کار نه يوازې د درغلو ادعاوو لپاره لار پرانيزي بلکې د ټولنو او  چارواکو لپاره د شرايطو د ارزونې بهير لانجمن کوي.[152] په همدې ډول دا د پوښتنې وړ ده چې آيا دغه ډول پاليسي د انتقالي عدالت دجبران د  پاليسی يوه اصلی برخه کيدای شي  چې د ټولو قربانيانو د کړاوونو د تاييد په موخه طرحه شوې ده. په داسې حال کې چې دا بايد تاييد شي چې په يوه چاپيريال کې چې زيات شمېر خلک کولای شي ادعا وکړي چې قرباني دي، د هر حکومت لپاره د جبران يوه هر اړخيزه پاليسي به ډېره ستره دنده وي.

په عمومي ډول حکومت په دې کې پاتې راغلی چې خپل مسووليتونه کوم چې د عمل په پلان کې بيان شوې دي، عملي کړي، څو د افغانانو کړاوونه تاييد کړي. په ۱۳۸۵ کال کې د بشري حقونو د نړيوالې ورځې( د قربانيانو ورځ) پر مهال د ولسمشر کرزي له خوا د عمل د پلان عامه پيل  او په نورو کلونو کې د قربانيانو پر حقونو د هغه ټينګار، ټولې سمبوليکې نښې وې.[153] په وروستيو کلونو کې د افغانستان حکومت په پراخه توګه  قربانيان يې له پامه غورځولي دي او د دوی د کړاوونو د ياد ساتلو سمبوليک نوښتونه  ډېر محدود شوې دي. ګڼ شمېر د مدني ټولنو سازمانونو د افغانستان د جنګی قربانيانو د ياد ساتلو د رسمی بهير لپاره  يې خپل ملاتړ څرګند کړ. په ۱۳۸۶ کال کې له هغه وروسته چې د بدخشان په ولايت کې يو ډله ايز قبر وموندل شو، ولسمشر کرزي ژمنه وکړه چې هغه ځاي کې به يادګاري څلی جوړ کړي، خو دا ژمنه هيڅکله هم تر سره نشوه.[154] دغه ډول چلند د حکومت د هغو يادګاري ورځو پر خلاف دی چې د مجاهدينو،  د افغانستان د اسلامي انقلاب او د احمد شاه مسعود د ورځې په نامه عمومي رخصتي يې اعلان کړي او همدارنګه يې د کابل په مرکز کې د مسعود د څلور لارې څلی يې جوړ کړی. د دې پر ځای د قربانيانو د ورځې د ياد مسووليت د افغانستان د مدني ټولنې پر غاړې ته پريووت. په ۱۳۸۷ کال کې د قربانيانو پر ورځ د بدخشان په ولايت کې د کمونيستانو د ډله ايز قبر د په نښه کولو په موخه يو يادګاري څلی جوړ شو.[155] بل کال د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون د لومړي ځل لپاره د جګړې د قربانيانو موزيم يې په بدخشان کې پرانيست. موزيم د لسګونو زرو افغانانو د مرګ يادونه کوي چې په هغه کې د جګړو پاتې شونې، د قربانيانو توټه او وراسته شوې کالي، بوټان، ځولنې، تسبيح او همدارنګه د سلګونو قربانيانو عکسونه او نومونه ځای لري. د موزيم لپاره سيمه د خلکو له خوا ورکړل شوې او په دې بهير کې قربانيان هم ښکيل وو. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون يو کميشنر وويل چې په پام کې ده  د قربانيانو د ياد ساتلو په موخه ورته کړنه په هرات او کنړ کې هم تر سره کړي.

د انتقالي عدالت نړيوال مرکزڅرګندوي چې د افغانستان د رواني جګړې د قربانيانو د نمانځنې فرصتونه کيدای شي دا ممکنه کړي چې مدني ټولنه د افغانستان حکومت سره په ګډه کار وکړي.[156] په داسې حال کې چې دا ډېره مهمه ده څو تاييد شي چې په افغانستان کې د قربانيانو نمانځنې په سياسی خنډونو کې بندې پاتې دي. د  جګړې د لاملونو او پايلو په اړوند له يوې هر اړخيزې ارزونې پرته، کيدای ښايي بيلا بيلې ډلې د ياد ساتلو  د بيلابيلو سمبوليکو پلانونو سره مخالفت وکړي. که يو څلی د کمونيستانو د دورې د ظلم څرګندونه کوي، نو د طالبانو د دوري قربانيان به نا راضه شي. دا که مجاهدين وستايي، قربانی شوې قومي لږکی ښايي د هغه مخالفت وکړي.[157] هغه فعالين چې په دې ډګر کې کار کوي بايد دغه خبره په ذهن کې وساتي چې که چېرې د نمانځنې سره په سمه توګه چلند و نه شي، نو کيدای شي په نااندوله توګه يوه ډله پر نورو بره کټل ښايي نارضايتي زياته کړي او کيدای شي د سياسي  تفرقې د وسيلې په توګه وکارول شي. د اړوندو ټولنو تر منځ د  قربانيانو ديو موټې نمانځنې بهير کيدای شي ځينې دغه ناخوښيو په مخنيوي کې مرسته وکړي. سربيره پر دې د انتقالي عدالت نړيوال مرکز په پام کې لري چې د قربانيانو د نمانځنې يو کارپوه را وغواړي څو يوه ارزونه تر سره کړي او  په دې هکله چې  د قربانيانو د نمانځنې په اړوند څه تر سر کيدای شي فکر وکړي.[158]

دا چې د  قربانيانو کړاوونه نه تاييد شوې نه پاتې کيږي د ضمانت يو بل مهم اړخ  دوی ته يو داسې چاپيريال برابروي چې په هغه کې دوی کولای شي د خپلو غمونو د شريکولو لپاره شبکې پيدا کړي او د نورو قربانيانو سره اړيکه ولري. د مدني ټولنې بيلابيل سازمانونه بالقوه ميکانيزمونه کاروي چې قربانيان وکولاي شي خپل دردونه بيان کړي. ديوالي او  عدالت لپاره بنسټ (FSFJ) د افغانستان د قربانيانو لومړنی شبکه ده. دوی په کابل کې د قربانيانو

[150] د انتقالی عدالت نړيوال مرکز، ؛د نړيوال دوره يی بيا کتنی لپاره غوښتنی/وړانديزونه؛۵

[151] خپواک کار پوه او د افغانستان د ملی پراختيا د ستراتيژی پخوانی مشاور، د ټولنيز سکتور د ساتنی د ستراتيژی د تيارولو د مسؤل شخصی تبصره،کابل د جدی ۲۴ کال ۱۳۸۸

[152] نړيوال بانک، د افغانستان د عامه سکتور د تقاعد طرحه: د بحران د مديريت څخه تر هر اړخيز سمون ستراتيژی پوری. ۴۴۴۰۸ ګڼه راپور، د بشری پراختيا څانګه، د جنوبی آسيا سيمه کال ۱۳۸۷

[153] د انتقالی عدالت نړيوال مرکز، ؛د نړيوال دوره يی بيا کتنی لپاره غوښتنی/وړانديزونه۳

[154] د ليکوال مصاحبه د بشری حقونو د خپلواک کميسيون کمشنر

[155] احمد سرداد، د افغانستان د جګړی موزيم د تېرو ناخوالی څرنګندوي؛ اګنس فرانس پرس، د ليندی ۲۰ کال ۱۳۸۸

[156] د انتقالی عدالت نړيوال مرکز، د نړيوال دوره يی بيا کتنی لپاره غوښتنی/وړانديزونه؛۴.

[157] وردين او ستيل ؛ د کيسو بيانول: د کمبوديا د تجربی څخه افغانستان ته درسونه.؛

[158] د ليکوال مصاحبه د انتقالی عدالت نړيوال مرکز استازی. د ليندي ۲۸ کال ۱۳۸۸

دري شوراګاني[159] رامنځته کړي. د اوريدونکو ډلي د بيلابيلو شورا ګانو قربانيان په مياشت کي يو ځل سره يو ځای کوي څو د جګړي په اړه خپلي تجربي او کيسي سره شريکي کړي. دغه ډلي قربانيانو ته د خبرو فرصت ورکوي او د جګړي د شرايطو په اړه د دوی د پوهي کچه لوړوي. همدارنګه د يووالي او عدالت عدالت لپاره بنسټ د قربانيانو لپاره د رواني او عصبي ناروغيو د درملني خدمتونه که څه هم چي په کابل پوري محدود دي وړاندي کوي.[160] د (FSFJ) بنسټ دمګړی يوازي په کابل کي فعاليت لري، خو غواړي چي دغه شوراګاني نورو ولايتونو ته هم وغځوي او اوس په هرات کي خپل دفتر فعالوي، په پام کي ده چي په مزار شريف کي هم يو دفتر پرانيزي.[161] د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون (د يوناما سره په ګډه) په ټول هيواد کي د قربانيانو د شبکو جوړول هڅوي او په دي وروستيو کي په کابل، باميانو او جلال آباد کي د قربانيانو د شپږو ډلو په رامنځته کولو کي يي مرسته کړي او د دي ډلو شمير يي شپږو ته رسولی دی. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون يو استازی چي له نږدي نه په دغه کار کي ښکيل دی څرګنده يي کړه: د باميان د ولايت د يکاولنګ په ولسوالی کي د قربانيانو په ډلو کي د غړيتوب لپاره ليوالتيا مخ په زياتيدو ده، چي دغړو شمير يي په ټولنيزه توګه کي ۱۰۰ تنو ته رسيږي، او په ورکشاپونو کي د خلکو زيات ګډون د دغو ټولنو او موسسو د شهرت ښکارندوی دی. نوموړي ځواب ويونکي زياته کړه، "که څه هم چي موږ لا تر اوسه په لومړي پړاو کي يو، خو موږ کولای شو د رامنځته شويو ټولنو ښه اغيزه د يکاولنګ پر خلکو باندي ووينو". په ټول افغانستان کي د قربانيانو د مالي او لوژستيکي ملاتړ لپاره له پر له پسي هڅو سره بايد مرسته وشي.

د افغانستان د بشري حقونو او ډيموکراسی سازمان په کابل کي له قربانيانو سره کار کوي، د تير سره د معاملي په موخه هنري او دوديز کړندودونه کاروي څو په دي توګه د بشري حقونو او انتقالي عدالت مسألي راوسپړي. نوموړی سازمان هيله مند دی چي د انتقالي عدالت او تياتر ترمنځ اړيکه پياوړي کړي، او په عين وخت کي د افغانستان د قربانيانو لپاره د خبرو کولو فرصت برابرکړي او د افغانستان د تيرو او اوسنيو غميزو سره د چلند او بنسټيز حل لپاره لاري چاري راوسپړي.[162] د هغوی د کار يوه بيلګه د انتقالي عدالت د نړيوال مرکز په مرسته د AH-7808 ننداره وه. دغه ننداره چي د يوناما او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون له خوا يي ملاتړ شوی، د ښښني د ميراث په هکله غبرګون هڅوي، لومړی ځل په ۱۳۸۷ کال کي په هيواد کي ننداري ته وړاندي شوه او د نړيوالو رسنيو پام يي ځان ته را واړوه[163] د دغه ننداری ډايرکتر، هاجلمر جفری- ايکهورن څرګنده کړه چي د افغانستان د بشري حقونو او ډيموکراسی سازمان دغه ننداره يي يو ځل بيا ننداري ت وړاندي کړه ځکه چي: "په ريښتيا سره دغه ننداره او د بحث لپاره د چاپيريال رامينځ ته کيدل د قربانيانو له خوا وستايل شول."

قربانيانو هم په رسنيو کي د خپلو کړاوونو لپاره لاري ومونډلي. د يووالي او عدالت لپاره بنسټ د پرانيستي ټولني د انستيتيوت په ملاتړ، په يوه افغانی ورځپانه کي د جګړي د قربانيانو د کيسو يوه لړۍ خپروي. دغه د کيسو لړۍ د تخار او کندز د راډيوګانو له لاري هم خپريږي.[164] د افغانستان د ملي ګډون ټولنه (ANPA) د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون په مرسته هره اوونی دری راډيويي پروګرامونه خپروي، چي د قربانيانو کيسی او په نورو هيوادونو کي د انتقالي عدالت تجربه او مفهوم راسپړي. وروسته دغه خپروني د اف ايم راډيو له ۴۰ څخه زياتوځايي ستيشنونو ته هم خپريږي.[165] د کليد ګروپ په منظم ډول د بشري حقونو سرغړوني او جنګي جرمونه په خپله مجله کي تر پوښښ لاندي نيسي. د ۱۳۸۸ کال په پيل کي د کليد راډيو يو ګردی ميز رابللی ؤ، چي په هغه کي انتقالي عدالت او د جنګي جرمونو مسألي تر بحث لاندې ونيول شوې.

د پورته ياد شوو نوښتونو سره سره افغان رسنی د انتقالي عدالت د مسألي په اړوند په پراخه توګه چوپه خوله پاتي دي او د څيړني ، پوهي او خلکو ته د جګړي په دوران کي د ملت د تجربو په اړوند د معلوماتو ورکولو په برخه کي يي ونډه ډيره محدوده ده. يوه نړيوال ځواب ويونکي په ډاګه کړه چي د افغانستان په شرايطو کي رسنيو ته لاس رسي لا تر اوسه هم مدني ټولني لپاره خورا ستونزمنه ده. د کليد او د متحده اياالاتو د سولي د انستيتيوت تر منځ د رسنيو د ونډې د لوړولو وروستی همکاري په دي برخه کي مرسته کولای شي. د دي پروژي ټوليزه موخه دا ده چي نوي رامينځ ته شوې افغان رسنی خلکو ته د بشري حقونو د سرغړونو، انتقالي عدالت په هکله د معلومات ورکولو په برخه کي پياوړي کړي او د څيړني ،پلټنو ،خپرونو او ويشلو له لاري د ښښني ته د پای ټکی کيږدي. د دغه کار له ترسره کولو څخه موخه دا ده چي د رواڼو او تيرو جګړو تاريخي ريکارډ لا نور هم پراخ کړي.[166] رسنی کولای شي د تيرو جرمونو په اړه د حقيقت په رسولو او د قربانيانو په پياوړي کولو، او هغوی ته د غږ د پورته کولو او ټول هيواد ته د هغوی د کړاونو د رسولو په برخه کي مهمه ونډه ولوبوي. نړيوال فعالين ټينګار کوي چي پورته ياد شوي فعاليتونه يو زيری ورکوونکی پيل دی او په دغو برخو کي به نوري روزني هم تر سره شي.

[159] شورا په کلی د مشرانو څخه تشکيل شوي ډلی ته ويل کيږی.

[160] د ليکوال مصاحبه د عدالت د پيوستون لپاره د موسسی استازی.

[161] د ليکوال مصاحبه د عدالت د پيستون لپاره د موسسی استازی، کابل د ليندي ۲۹ کال ۱۳۸۸

[162] خداد بشارت، د افغانستان د بشری حقونو او ديموکراسی د موسسی مشر، شخصی تبصره، ۲۴ لړم کال ۱۳۸۸

[163] د نورو معلومات لپاره وګوری، ايملی وينتربوخم،؛ د جګړي ارواح؛ افغان ننداره، ۶۲ ليندي کال ۱۳۸۸

[164] د ليکوال مصاحبه د عدالت د پيوستون د موسسی استازی، کابل د لړم ۲۷ کال ۱۳۸۸

[165] د ليکوال مصاحبه، د بشری حقونو د خپلواک کميسيون کمشنر.

[166] د متحده اياالاتو د سولی انستيتيوت استازی، شخصی تبصره.، د جدی ۲۲ کال ۱۳۸۸

# ۵. پایله: مخ په وړاندې کتل

د جګړې د پای ته رسولو په بحثونو آن د جګړې وروسته اجنډا کې د قربانیانو اړتیاوې د لومړیتوبونو د لیست په پای کې راځي. څرنګه چې د انتقالي عدالت نړیوال مرکز څرګندوي، د قربانیانو ډله هغه اغیزه چې په بحث کې اړوندې خواوې یې باید ولرې نه یې لري، او سر بېره پر دې، بنایي دوی د ثبات لپاره یو ستر ګواښ و نه بلل شي. دم ګړۍ او په اوږد مهال کې، په هیواد کې د اعتماد د رامنځته کولو لپاره د جګړې نه وروسته اجنډا کې د قربانیانو او د هغوی حقونو ته په بشپړ ډول ځای ورکول ډېره اړینه ده. د قربانیانو اړتیاوو ته ځواب ویل، د دواړو، قانون او اخلاق له نظره، همدارنګه د ستراتیژیک ارزښت له پلوه، د اوږد مهالو سیاسي ګټو او د تلپاتې سولې د رامنځ ته کولو لپاره خورا ارزښتناکه ده.[۱۶۷] په حقیقت کې، دا څرګنده ده چې په افغانستان کې د قربانیانو اندېښنو ته نه پاملرنه، د روانې بښنې سره د مبارزې کمزورتیا د بلواګرۍ سره مرسته کوي.[۱۶۸]

دغه سند ځینې هغه هڅې څرګندوي چې د یو لړ افغان او نړیوالو سازمانونو له خوا د تېر وخت ته د رسیدګي سره د مرستې په موخه په لاره اچول شوې دي. "انتقالي عدالت" د یوه هیواد لپاره د تیر میراث سره د معاملې په موخه یو لړ بهیرونه په ځان کې رانغاړي. که څه هم شرایط استثنايي دي خو د انتقالي عدالت میکانیزم او یا میکانیزمونه باید حقیقت څرګند کړي. په افغانستان کې اکثراً د انتقالي عدالت په اړه ناسمه پوهه موجوده ده او دا مفهوم تړې اخیستل شوی چې یواځې د جنایي مسولیتونو پوښتنو ته رسیدګي کوي.[۱۶۹] په داسې حال کې چې جنایي عدالت تل شونی او یا آن د غوښتنې وړ نه دی، پرېکړه کوونکي او خلک باید د موجود وضعیت لپاره د یو لړ ممکنه انتخابونو په اړه خبرتیا ولري، پرته له دې چې د معافیت په اړه ټینګار وشي.[۱۷۰]

کومې پالیسیګانې چې د تېر وخت سره د مقابلې او د تیر د جبران په هکله کار کوي، کیدای شي د خلکو سره د جګړې او تاوتریخوالي سره د توافق په برخه کې مرسته وکړي. د پیرو او بوسنیا په څېر نورو هیوادونو کې، چې په دې نه پوهیدل چې د دوی له عزیز سره څه شوي، د تېر وخت سره د معاملې په لاره کې د خلکو او په همدې توګه د بیا پخلاینې په لار کې د یوه هیواد د وړتیا په وړاندې د ستر خنډ په توګه وپیژندل شو.[۱۷۱] دا ډېره مهمه ده چې نړیواله ټولنه او په ځانګړې ډول د افغانستان حکومت په افغانستان کې د ډله ایزو قبرونو د موندولو او ساتنې او خوندیتوب په برخه کې د بشري حقونو له ډاکټرانو سره مرسته وکړي. د ډله ایزو قبرونو ړنګول د نورو کیندونو او موندنو مخه نیسي، چې نه یواځې د هر کس پر ټېونو د مرهم ایښودلو لپاره اړینه ده، بلکې د تېرو جرمونو په هکله د حقیقت موندنو سره هم مرسته کوي. د مستندولو او د شواهدو د راټولولو او ساتلو په برخه کې د افغانانو د وړتیا په لوړولو کې مرسته دا تضمینوي چې که چیرې او یا هرکله چې افغانان په خپله پرېکړه وکړي چې څه باید وکړي نو دا معلومات به ورک نه وي. په داسې حال کې چې دا د افغانستان د حکومت مسؤلیت دی چې د افغانستان د جګړې د قربانیانو کړاوونه تایید کړي، کیدای شی مالی او مادي تاوانونه، د سترو مالي پایلو له امله، دوام ومومي، او په حقیقت کې کیدای شي دا د جرم د منلو په توګه وانګیرل شي. که څه هم سمبولیکي نښې نښانې لکه د قربانیانو د نمانځنې رسمي ورځې کیدای شي قربانیانو ته دا وښایي چې د دوی تجربې نه دي هېرې شوې. د انتقالي عدالت د همغږۍ د ډلې استازي د مرکو پر مهال په دې هکله چې د افغانستان حکومت په رسمي توګه د قربانیانو د کړاوونو د تایید فرصتونه یې له پامه غورځولي خپله نا هیلي یې څرګنده کړه. په داسې حال کې چې دا نور ټول بهیرونه هم کمزورې دي او ملاتړ ته اړتیا لري.

دا ډېره مهمه ده چې نړیواله ټولنه د هغو سازمانونو په پراختیا کې خپلو مرستو ته دوام ورکوي کوم چې د انتقالي عدالت په اړه کار کوي. د مدني ټولنې د وړتیا د لوړولو لپاره همغږې هڅې په ځانګړې ډول د انتقالي عدالت د همغږۍ ډله، څو د انتقالي عدالت څخه په اغیزمنه توګه ملاتړ وکړي، کیدای شي په ځواک کې شتو کسانو ته د قربانیانو د غږونو رسول تضمین کړي. په کابل کې د میشتو سازمانونو جغرافیایي پراختیا او په ولایتونو کې د نورو ډلو د رامنځ ته کولو سره مرسته کولای شي د هیواد په کچه د انتقالي عدالت د ارزښت په اړه پوهه رامنځته کړي. یوه پیاوړې، فعاله او ملی مدني ټولنه کولای شي د حساب ورکونې پالیسي ګانې وهڅوي او د بښنې پراخیدل د حکومت لپاره ستونزمن کړي.

دا مهمه ده چې یو بل حقیقت هم په ډاګه شي: په داسې یو چاپیریال کې چې د انتقالي عدالت د هرې بڼې سره مخالفت کیږي، هر ډول نوښت، مهمه نه ده چې په څه ډول تر سره کیږي، هڅه او هاند به وکړي. په پای کې د تیر سره د معاملې د یو بنسټیز بهیر لپاره، د سیاسي مشرتابه او ادارو پر شاملیدو هم ټینګار وشي. نړیواله ټولنه چې په نورو هیوادونو کې د انتقالي عدالت ارزښت یې تایید کړئ دی، او د خپلو نړیوالو تړونونو پر بنسټ اخلاقي او حقوقي مسؤلیت لري چې دا ډاډ منه کړي چې د افغانستان حکومت هغه په ملیونونو عادي افغانان چې کړاوونه یې ګاللي او لا تر اوسه هم د جګړې له امله کړاوونه ګالي هېر کړي نه دي.

[۱۶۷] محمد سوما او کرستین کوریا، ؛په سیرالیون کې د تاوان او د هغه د پلې کولو په اړوند راپور،؛(د انتقالي عدالت نړیوال مرکز ۱۳۸۸)

[۱۶۸] لیدویج وګورئ؛ په افغانستان کې او د یاغیتوب سره مبارزی: یوه ورک شوي اړیکه،؛د قومی اړیکو دفتر،؛د اروزګان ټولینز-سیاسی ارزونه ۱۳۸۶ - ۱۳۸۸ او توماس رتینګ ؛د افغانی یاغیتوب بعدونه؛

[۱۶۹] دغه موندنې په افغانستان کې د ملی فعالینو سره د مصاحبې په ترځ کې لاسته راغلې دي.

[۱۷۰] مانی ۲۶

[۱۷۱] د بوسنیا په اړوند د نورو معلوماتو لپار ویسیلنګ والیورین او د پیرو په اړه لیزا مګاریل او لیوناردو فیلین وګورئ؛د حقیقت موندنې مشروعیت:د پیرو په انتقالی دوره کې جنایی عدالت؛ د انتقالی عدالت نړیوال مرکز ۱۳۸۶ په دغه ویب پاڼه کې د لاسرسی وړ دی:http://www.ictj.org/static/Americas/Peru/Legacyoftrugh.eng.pdf

لازمه ده چې د قربانیانو غږ بیا بحث ته راوړل شي او د دوی اړتیاوې تایید شي. د افغانانو د ربښتینو غوښتنو او اړتیاوو د درک په هکله لا نورې پوهې ته هم اړتیا ده. د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې څېړنه هیله منده ده چې د دې پوهې په پراختیا کې مرسته وکړي او پالیسي جوړونکو ته دا معلومات ورکړي چې افغانان په خپله د "عدالت"، "بیا پخلاینې "او "سولې" څخه یې کوم مفهوم اخیستی دی. یو شی روښانه دی: د وړاندې تګ لپاره د لارو تشخیصول نه یوازې د هغو افغانانو او نړیوالو فعالینو سره چې په واک کې دي بلکې د افغانانو د پراخو ټولنو سره دوامداره سلا مشورې ته اړتیا لري.

څرنګه چې ښکاري ښایې پالیسي جوړونکې د څو لسیزو جګړو وروسته، تېر وخت له پامه وغورځوي او په دې ډول په افغانستان کې د بېښنې میراث ته د رسیدګی ناکامي به په دغه هیواد کې له روانو شخړو سره مرسته وکړي. انتقالی عدالت یوازې تېرو جرمونو ته رسیدګي نه بلکې له پر له پسې معافیت سره هم چلند دی کوم چې د حکومت مشروعیت ته یې زیان اړولی او د بلواګرۍ سره د مبارزې او د حکومتدارۍ په وړاندې سترخنډ دی. د بن له تړون څخه کابو ۹ کاله وروسته چې افغانستان باید مخ په وړاندې تللی وای، یوازې باید د نورو هیوادونو تجربو ته و نه کتل شي او باید خپل تاریخ ته هم وګوري. د تېر سره چلند او د اوس مهال سره د هغه د اړیکې ارزښت باید د افغانستان د راتلونکې په اړه په ټولو بحثونو کې په پوره دقت سره په پام کې ونیول شي.

د دغې خپرونې نسخې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې له دفتر څخه په وړيا توګه تر لاسه کولاي شئ:


د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

د ګل پلورلو سړک ( د واټ څنګ)   نوی ښار

کابل، افغانستان

ټليفون: ۵۴۸ ۶۰۸ ۷۹۹ (۰) ۹۳+

برېښناليک: areu@areu.org.af

برېښنا پاڼه: www.areu.org.af